**د افغانستان اسلامی جمهوریت**

**د پوهنی وزارت**

**د تخنیکی او مسلکی زده کړو معینیت**

**د اداری او حسابداری انستیتیوت**

**د تعلیمی ا و تربیتی پلان جوړونی ډیپارټمنټ**

# اســــــــلامی ثـــقـافـت

مؤلف :عبدالمتین (سروری )

سال ۱۳۹۲

# لړلیک

| عنوان | مخ |
|---|---|


لړلیک ........ ۱
سریزه ........ ۲
لومړی څپرکی ........ ۳
د علم اوثقافت مفهوم ،اهمیت اوفرضیت ........ ۳
دعلم اوثقافت مفهوم: ........ ۳
دعلم اهمیت: ........ ۳
دعلم فرضیت: ........ ۳
دوهم څپرکی ........ ۵
په اسلام کې دښځې حقوق اوزده کړه ........ ۵
ا - دښځو حقوق داسلام له نظره کوم دی ؟ ........ ۵
اوله مرحله ،له پیدایشت نه تر نکاح پورې ( د پلار په کور کې ) : ........ ۵
دوهمه مرحله د نکاح څخه وروسته ( د خاوند په کور کې ) : ........ ٦
اول : مالي حقوق : ........ ٦
ج) : مسکن ( استوګنې ځای ) : ........ ۷
دریمه مرحله د مور مقام : ........ ۸
ب - دښځوزده کړه داسلام له نظره: ........ ۸
**دریم څپرکی** ........ ۱۱
په اسلام کې د پلان جوړونې ارزښت: ........ ۱۱
حلورم څپرکی ........ ۱۲
څارنه او ارزونه په اسلام کې: ........ ۱۲
پنحم څپرکی ........ ۱۳
بیکاري او د مسؤلیت نه پیژندل د اسلام له نظره: ........ ۱۳
۱- کارکول عین عبادت دی: ........ ۱۳
2- کارکوونکو ته د جنت زیری ورکړل شوی : ........ ۱٤
3: په کار کې اخلاص ........ ۱٤
۳,۱ د بیکاری تاوانونه: ........ ۱٤
۳,۱,۳ دبیکاره دعا نه قبلیږي: ........ ۱۵
۳,۱,٤ بیکاري د فقر لامل ګرځي: ........ ۱۵
۳,۱,۵ په بیکاره سړي د الله ج لعنت وي. ........ ۱۵
۳/۱/۶ بی له زحمته راحت نشته:-۶ ........ ۱۵
شپږم څپرکی ........ ۱۵
اسلام ، نظم اوټولنیزخوځښت ........ ۱۵
ټولنیز خوځښت څه ته وایي؟ ........ ۱٦
د ټولنیز خوځښت اصلی توکي په لاندي ډول دي: ........ ۱٦
ټولنیز خوځښت د چا دنده ده؟ ........ ۱۹
اووم څپرکی ........ ۲۲
تعصب او عصبیت داسلام له نظره: ........ ۲۲
اتم څپرکی ........ ۲۵
**اداری فساد داسلام له نظره** ........ ۲۵
اداری فساد او د هغی ډولونه: ........ ۲٦
سرچینی اوماخذونه: ........ ۲٦

## بسم الله الرحمن الرحيم

**سريزه**

اسلام يو جامع او شامل دين دی چې د ژوند د ټولو اړخونو په هکله يې د انسان لارښوونه کړې ده ، او هيڅکله يې انسان خپل سری او بيکاری ته نه دی پرې ايښی ، بلکه يو پلان يې ورکړی چې څارنه ترې کيږي د کارکولو امر کوي ، د ټولنيز ژوند په هکله لارښوونه کوي او په پای کې د همدغه ژوندارزونه تر سره کيږي تر څو د ثواب او عذاب پروسه تطبيق شي پدې کتاب کې د همدغه موضوعاتو په هکله لنډ بحث شوی تر څو هر لوستونکی خپل مسؤليت درک او يو مسؤلانه ژوند غوره کړي له بې کاری او عدم مسؤليت څخه ځان وژغوري تر څو ددنيا او اخرت له نيکمرغيو څخه برخمن شي .

داکتاب اته څپرکی لری چی په لومړی څپرکی کی دعلم اوثقافت دمفهوم اهميت اوفرضيت په هکله دلايل اومعلومات وړاندی شوی،په دوهم څپرکی کی دښځوحقوق اودښځودزده کړی په هکله له قرآن کريم اومبارکواحاديثوڅخه استدلال شوی،دريم څپرکی کی دتعصب بدياني داسلام له نظره څيړل شوی،څلورم څپرکی کی داسلام حکم داداری فساد په موردکی بيان شوی،پنځم څپرکی، په اسلام کی دپلان جوړونی دارزښت بيانوی،شپږم څپرکی په اسلام کی د څارنی اوارزونی سيستم ښايي،اووم څپرکی کی داسلام دريځ دبيکاری اومسؤليت نه پيژندلوپه وړاندی روښانه کړی اواتم څپرکی کی دنظم اوټولنيز خوځښت په هکله داسلام ټينګارپه ډاګه شوی .

عبدالمتين (سروري)

## لومړی څپرکی

## د علم اوثقافت مفهوم ،اهمیت اوفرضیت

### دعلم اوثقافت مفهوم:

علم په لغت کی پوهی ته وایی،اوپه اصطلاح کی دخارجی واقعیتونوپه هکله دمعلوماتوترلاسه کولوته وایی.
ثقافت په لغت کی ځیرکتیا ،مهارت،اوسمون ته وایی،اوپه اصطلاح کی دخپلی خاصی (تخصصی)رشتی سربیره دشرعی علوموپه هکله معلوماتوته وایی لکه :یوډاکټر،انجینیر،ساینسدان.....چی دخپلی دغی رشتی سره سره دشریعت په هکله هم معلومات ولری .

### دعلم اهمیت:

علم دانسان ددنیااواخرت دنیکمرغی لامل کرځی اوانسان دانسانیت لوړو پوړونوته رسوی،اودعالم اوبی علمه مقام هیڅکله برابرنه دی الله (ج)فرمایی:((قل هل یستوی الذین والذین لایعلمون.....))((یرفع الله الذین آمنوامنکم والذین اوتواالعلم درجات .....)) ،((انمایخشی الله من عباده العلماء....)).
ژباړه :ایا هغهڅوک چی پوهیږی اوهغه څوک چی نه پوهیږی برابردی ؟نه هیڅکله نه،الله پاک مؤمنانوته لوړتیا په برخه کوی اوهغه څوک چی پوهیږی څوپوړه جګ دی ،له الله پاک څخه په بندګانوکی ډیر ویریدونکی خلک علماء دی.
اوخوږپیغمبر(ص) فرمایلی دی : ((موت العالم موت العالم))،((العلماء ورثة الانبیاء.......))،((فقیه واحداشدعلی الشیطن من الف عابد))
ژباړه :دیوعالم مرګ دټول مخلوق مرګ دی،علماءدپیغمبرانووارثان دی،د یوپوهه انسان بی لاری کول شیطان ته د زروبی علمه انسانانوله بی لاری کولوڅخه سخت دی.

### دعلم فرضیت:

د علم زده کړه په هر مسلمان نارینه وي او که ښځینه یو شان فرض ده . الله جل جلاله دواړه ډلي مکلفي کړي دي چي ددین هغه ضروري احکام چي په ورځني ژوند کي ورته اړتیا پیښیږی یاد او زده کړي. کوم آیاتونه او احادیث چي دعلم په فرضیت دلالت کوي ټول ددي خبري دلیل او ددي دعوي ثبوت دي او هر څوک چي په کوم دیني حکم نه پوهیږي او بیا هم پرې ځان نه پوهوي یا په دې هکله ځانته شرم او ننګ دروي نو دا ګنهګار دی، ځکه چي الله جل جلاله خپلو بنده ګانو ته امر کوي چي (فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لاتعلمون) یعني دپوهي له خاوندانو څخه وپوښتئ که چیرې تاسي نه پوهیږئ، نو دالله جل جلاله ددې حکم او دا ډول نورو اوامرو پر اساس ددیني مسایلو زده کړه په هر نارینه او ښځینه فرض ده او په هر مسلمان لازم ده چي په دې هکله هیڅ شرم او ننګ ونه کړي. یعني ددیني مسایلو په زده کړه کي شرم او عار ته هیڅ ځای نشته دی او که څوک په اسلام کي لږه مطالعه هم ولري او په ځانګړي ډول که چا احادیث او فقه لوستي وي نو هغه په دې پوهیږي چي ددین په زده کړه کي شرم نشته دفقهي او احادیثو معتبر کتابونه له داسي مسایلو ډک دي او داسي مسایل په کي په خورا مفصل ډول تشریح شوي دي چي ښایي ځیني به یي ځانته شرم بولی که دداسي مسایلویادول شرم وي اویادداسي مسایلو لیکل یاروښانول له اخلاقو سره سمون ونه لري نو زموږ ددین امامانوبه هیڅکله هم نه لیکل او نه به یي لوستل .که دداسي مسایلو یادول یا رانقلول شرم وي نو نارینه و صحابه و او ښځینه و صحابه و او په ځانګړي ډول امهات المومنین (

رض ) او په خپله رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به نه بیانولی او نه به یې په مفصل ډول ددې مسایلو روایت کاوه . په خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم او دهغه صلی الله علیه وسلم دمبارک صحابه و دحیا دبیلګې له راوړلو څخه دانسانیت تاریخ بلکل عاجز دی نو بیاددې مسایلوپه یادولواوبیانولو کی هیڅ شرم نشته آیا زموږ دحیا قوه ترهغوی ډېره ده ؟ نه هیڅکله هم نه. نو بیا دې زموږ مسلمان ورونه او خویندې میندې درسول الله صلی الله علیه وسلم، امهات المؤمنین، نورو جلیل القدره صحابه و او تابعینو په پل پل کیږدي او ددیني مسایلو په زده کړه کې دې هیڅ شرم نه محسوسوي. اسلام پوښتنه کول عیب نه بولي خو ناپوهي عیب بولي او داسلامي شریعت په تطبیق کې هم په اسلامي ټولنه کې دناپوهی عذر ته اعتبار نه ورکول کیږي زموږ ډېرې دینداره خویندې میندې او ورونه همدې غلط احساس له دین څخه پردې کړي دي او د جها لت او ناپوهی په زولنو کې یې ګیر کړ ي دي . له بده مرغه چې د بې سوادۍ او ناپوهی دبلا وزرې خو زموږ په ټولنه کې تر بلې هرې ټولنې زیاتې خپرې دي

الله ( جل جلاله) چې یو انسان د یو کار په ترسره کولو مکلف کړی دي یا یې دکوم کار له کولو منع کړی دی نو ددې مسئلې دشرعي حیثیت زده کول یې هم پرې فرض کړي دي او ددې مسئلې بیانول او یادول بیا نه یوازې دا چې شرم اوبې حیا یې نه ده ، بلکې فرض او لازم دې ځکه چې موږ مسلمانان یو ، دژوند هرې برخې او هر کار لپاره مو حدود او چوکاټ اسلام ټاکلي همدارنګه دهغو مسایلو حدود او چوکاټ هم اسلام ږدي چې بیانول یې لازم نه دي یا په بل عبارت دا به هم راته اسلام وایي چې په فلانۍ مسئله کې له دې زیات تفصیل او بیان په کار نه دی. که څوک یې بیا هم تفصیل یا اوږدېدل غواړي نو هغه سړی بې شرمه او ګنهګار دی.

ددین زده کړه یا بل چاته یې وربښودل هغه چې اسلام یې دزده کړې او بل ته دښودلو اجازه کړې وي لکه جنسي مسایل، حیض، نفاس... دا که هر څومره چاته دشرم خبره ښکاري خو یادول یې بې حیایي نه ده ، بلکې پخپل ذات کې عبادت دی صحابه و اوامهات المومنین رض چې په محمدي سپڅلي مدرسه کې څه زده کړي دي نو پرته له دې چې له ځان څخه په کې څه کمښت او ډېرښت راولي په ډېره امانتدارۍ سره نوروته رسولی له دی څخه ددوی اساسي هدف دادی چې هغه فرضیت یا وجوب چې نورو ته ددې مسایلو دښودلو په هکله ددوی پر غاړه پروت دی ساقط شي او هم نور مسلمانان دادیني مسایل چې دوی پخپله دالله (ج ) یا له محمد( ص) نه زده کړي دي نورو ته وښیي او که خدای مه کړه دوی ددې احکامو په روایت او بیان کې شرم محسوس کړی وی نو نن به مونږ ددې مسایلو له احکامو څخه نه خبرېدو که حضرت عایشې رض یا درسول الله دمبارک حریم نورو بیبیانو درسول الله ص دغسل طریقه موږ ته نه وای بیا ن کړې او ځانته یې شرم ګڼلی وای نو نن به موږ دشرعي غسل طریقه له چایاده کړې وه؟

ام سلمه(رض) روایت کوي چې ام سلیم (رض)درسول الله (ص)حضور ته راغلله او عرض یې وکړ چې یارسول الله، الله (ج)دحق په ویلو کې شرم نه کوي آیا په ښځه کله چې احتلام ورته پیښ شي ( شیطان یې وغولوي) غسل شته ؟ رسو ل الله (ص) ورته وفرمایل چې هو کله چې اوبه (مني) ووینې...

په پورتنیو الفاظو کې په محمدي مدرسه کې روزل شوې صحابیه په زغرده رسول الله ص ته وایي چې ددین په یادولو او په حق وینا کې شرم نشته او رسول الله ص هم ددې موضوع په پوښتنې سره ونه رټله او نه یې پرې دبې حیا نوم کیښود .

حضرت عایشه رض روایت کوي چې ما او رسول الله به په یوه تشناب کې یو ځای او له یوه لوښي څخه غسل کاوه تر دې چې رسول الله (ص)به داوبو په لګولو کې په ما چالاکي کوله نو ما به ورته وویل چې ((دعا لي .. )) یعني: ماته اوبه پرېږده ماته اوبه پرېږده .. حضرت میمونه رض درسول الله دغسل دجریان حکایت کوي او دا حدیث امام زیلعي او ټولو صحاح الستة روایت کړی د حضرت انس بن مالک رض روایت کو ي چې (( رسول الله به په یوه شپه کې په ټولو بیبیانو ګرځیده ( له ټولو سره به یې جماع کوله) او ده په دې وخت کې نهه ښځې درلودلې.)) او بخاري کې وایي چې بیا په یې له دې ټولو څخه یو غسل کاوه حضرت عایشه رض روایت کو ي چې کله رسول الله وفات کیده نو سر یې زما دسینې او غاړې ترمنځ ایښی و تر دې چې دخولې لاړې یې زما دخولې له لاړوسره یوځای شوې .

درسول الله ص دسیرت هغه برخه خو به چې نورو صحابه ولیدله یا اورېدله او دهغوی ص هغه اعمال او کړنې چې هغوی پرې خبرېدل نو دا خو به صحابه وو رض روایت کړي وو،اکثره کورنې احکام چې په کورنی فقهې پورې اړه نیسي درسول الله (ص) میرمنو روایت کړي دي او رسول الله ص دهمدې مسایلو دخورا ښه تشریح لپاره ډېر ودونه کړی

د علم د اهمیت او فضیلت په برخه کې د قرآن مجید د مجادلې په سورت کې څرګندونه شوې ده چې (یرفع الله الذین امنو منکم لا والذین اوتوا العلم درجت ) الایه (لوی خدای د هغه چا درجه لوړه کړې ده چې ایمان یې راوړی او علم یې زده کړی دی.) له دې کبله په حدیث شریف کې ویل شوي:

((العلماء ورثه الانبياء)) علما د پیغمبرانو وارثان دي. په دې ډول ډېرې څرګندې ویناوې په قرآن عظیم او نبوي احادیثو کې موجودې دي، له دې امله د علم زده کړه په هر مسلمان نارینه او مسلمانې ښځې فرض ده، لکه په حدیث شریف کې چې ویل شوي دي: ((طلب العلم فریضه علی کل مسلم و مسلمة)) د علم کلمه چې په حدیث شریف کې مطلق بیان شوې ده، نو د فقهي اصولو له مخې مطلق په عام ډول سره په ټولو علومو دلالت کوي، چې د عقایدو علم د اولیت مقام لري او نور علوم د ټولنیزو اړتیاوو له مخې ښایي چې له ضرورت سره سم زده کړل شي.

د اسلام له نظره د علم زده کړه په ټول ژوندانه کې په کار ده، لکه چې په حدیث شریف کې ویل شوي، ((اطلب العلم من المهد الی اللحد)). د علم په زده کړه پسې له زانګو څخه تر لحده (مرګه) پورې هڅې وکړئ.)

د علم زده کړه چې په هر ځای کې ممکنه وي، ښایي سفر ورپسې وشي، لکه په حدیث شریف کې چې ویل شوي دي: ((اطلبو العلم ولوکان بالصین). علم زده کړئ که څه هم په چین کې وي. سربیره په دې د اسلام مبین دین لارښوونه کوي چې غیرناطق حیواناتو ته دې هم روزنه، ښوونه ورکړل شي، لکه د مائدې د مبارك سورت په څلورم ایت کې یې چې څرګندونه شوې ده: ((اې مومنانو! تاسې نورو ساکښو (غیرناطقو حیواناتو او مرغانو) ته ښوونه او روزنه ورکړئ، په هغه ډول سره چې الله تاسې ته ښودلې ده. نو تاسې د هغه ښکار غوښه وخورئ چې تعلیم یافته ساکښو تاسې ته ښکار کړی نیولی وي. خو تاسې د الله نوم په ښکاري ساکښ، ښکار ته د لېږلو پر وخت یادوئ)). نو کله چې د تعلیم په برکت د سپي د خولې د ښکار غوښې خوړل روا دي، نو انسان کله له داسې نعمت څخه بې برخې کیدلی شي. خصوصاً میندې چې د اولاد پالنې، روزنې او ښوونې دنده پر غاړه لري، او په فطري لحاظ له تولد څخه له اولاد سره ملګری وي، په تعلیم کې د وړومبې والي حق لري، نو که مور عالمه نه وي، نو د اولاد د پوهې بنسټ به څرنګه پیاوړی شي.

اسلام سربیره د ځمکې په تسخیر او ودانولو د انسان فکر عالم اعلی ته معطوف کوي، تر څو د ساینس برکت په علمي او باطني بصیرت سره د کایناتو فوقاني نظام ته کره کتنه وکړي، لکه د انبیاؤ د مبارك سورت په ۳۰ ایت کې چې ویل شوي دي: (آیا کفار نه پوهیږي چې ځمکه او آسمانونه یو له بله نښتي وو او موږ هغوی سره جلاکړل او په اوبو سره مو هر شی ژوندی کړ. آیا هغوی ایمان نه راوړي.

## دوهم څپرکی

## په اسلام کې دښځې حقوق اوزده کړه

### ا - دښځو حقوق داسلام له نظره کوم دی ؟

**ځواب:**

په اسلام کې د ښځو حقوقو په څو مرحلو ویشل کیږي چې په هر مرحله کې اسلام د ښځو سره د بې نهایته ښه سلوک حکم کړی دی.

### اوله مرحله ،له پیدایشت نه تر نکاح پورې ( د پلار په کور کې ) :

په دغه مرحله کې نجونی د هلکانو په شان حقوق لري پلار د خپل نارینه او ښځینه اولاد د رزق او نفقې او همدارنګه شرعي علم او اسلامي تربیې پوره مسئولیت لري .

مګر په دغه مرحله کې اسلام د هلکانو په نسبت د نجونو سره د مهربانه او ښه سلوک زیات ټینګار کړی دی :

حضرت نبی کریم (صلی الله علیه وسلم )فرمایي : کوم سړی چې د درېو لونو یا درېو خوندو پالنه وکړه ،هغوی ته یې ضروري ښوونه او روزنه زده کړه او په مهربانی چلن یې ورسره وکړ آن تر دی چه الله تعالی هغوی بی نیازه کړي ( د واده تر وخته پورې ) ،نو د داسې سړی لپاره الله تعالی جنت واجب کړ،پر دی خبرو یو سړی ووېل: که دچادو هړنجونی وي ؟نو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ددوه نجونو د پالنی همدا بدله ده حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایي که خلکو د یوی نجلی په اړه پوښتنه کړی وای نو نبی (صلی الله علیه وسلم )به بیا هم همدا زېری ورکاوه.(مشکوه).

همدارنګه : رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ )فرمايي: «مَنْ كانت له ابنتان فَأَحْسَنَ إِلَيْهِما كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنْ النَّارِ»؛
**ژباړه:** څوک چې دوې لورګانې ولري او په ښه او نیکه توګه له هغوی سره سلوک وکړي ،ده ته به د دوزخ د نجات وسیله وګرځي.

**جناب رسول كريم (صلى الله عليه وسلم )بل ځای داسې مبارک ارشاد فرمايي :**

« من رُزق بناتٍ أو أخواتٍ فأحسن إليهنَّ كُنَّ له ستراً من النار، و هكذا من مات له ثلاثة أفراط لم يبلغوا الحِنث كانوا له حِجَاباً من النار؛ قالوا يا رسول الله، واثنَان؟ قال:"واثنان"».

« څوک چې لونړه یا خویندې ولري او له هغوی سره نیک چلن وکړي هغوی به د دوزخ نه د نجات سبب شي ،همدارنګه که چا دری بچیان چې بلوغ ته نه وي رسیدلی له لاسه ورکړي ( وفات ) شی ، ده ته به د دوزخ څخه د نجات وسیله وګرځي ، چا وویل : یا رسول الله ! که دوه وي ، و یې فرمایل : د دوو د پاره هم دومره اجر دی .

**دوهمه مرحله د نکاح څخه وروسته ( د خاوند په کور کې ) :**

په دې مرحله کې هم اسلام د ښځې سره د ښه سلوک حکم کړی دی(( وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ ))( اوله هغی سره په ښه طریقه ژوند تیر کړی ) ، او د هغې په خاوند یې لاندې حقوق مقرر کړي دي :

**اول : مالي حقوق :**

د ښځې په خاوند باندې مالي حقوق دي لکه مهر ، نفقه او د استوګنې ځای .

**الف ) مهر :** مهر هغه مال دی چې خاوند یې د عقد نکاح په وخت خپلې ښځې ته ورکوي او دا د ښځې واجب حق دی پر خپل خاوند باندې قال الله تعالى : { وآتوا النساء صدقاتهن نحلة } یعني : او ښځو ته د دوی مهر په خوښئ او رضا ورکړئ که د نکاح د عقد په وخت کې مهر نه وي ټاکل شوی نو بیا مهر مثل ادا کیږي .

**ب ) نفقه :** د اسلامي امت د علماؤ په دې باندې اتفاق دی چې د ښځې نفقه پر میره باندې فرض ده ، ځکه چې د نفقي پیدا کولو د پاره د کور څخه د باندې وتل د نارینه مسئولیت دی نه د ښځې او میړه به خپلې ښځې ته د اقتصادي توان موافق نفقه برابروي قوله تعالى :

( وعلى المولود له رزقهن وكسوتهن بالمعروف ) البقرة/٢٣٣ ، یعني په دې صورت کې به د ماشوم پلار په ښه توګه هغوی (مور او ماشوم ) ته په ښه توګه خواړه او جامې ورکوي .

وقال عز وجل : ( لينفق ذو سعة من سعته ومن قدر عليه رزقه فلينفق مما آتاه الله ) الطلاق/٧ .

یعني : توانا خاوند ښايي د خپل توان په اندازه نفقه ورکړي او په هر چا چې روزي تنګه شوه ، نو د هغه څه نه چې الله جل جلا له ورکړي دي نفقه دي وکړي .

**في السنة :**

وعن جابر : أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال في خطبة حجة الوداع : ............. ولهن عليكم رزقهن وكسوتهن بالمعروف " . رواه مسلم ( ١٢١٨ ) . یعني : جابر رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په حجة الوداع وفرمایل : ... او د هغوی پر تاسي باندې دا حق دی چې هغوی ته به په ښه شان نفقه او د استوګنې ځای برابروئ .

عائشه رضي الله عنها روایت کوي چه: «أنَّ هنداً بنت عتبة قالت: يا رسول الله إنَّ أبا سفيان رجل شحيح، وليس يعطيني ما يكفيني وولدي إلاَّ ما أخذت منه وهو لا يعلم، فقال: خذي ما يكفيك وولدك بالمعروف» (متفق عليه ) .

د عقبه لور (هند ) وویل : ای رسول الله صلى الله عليه وسلم ! ابوسفیان یو بخیل سړی دی ، او ماته دومره شی چې د ځان او اولاد مې کفایت ورباندې وشي نه راکوي ، مګر څه چې زه یې د هغه له مال څخه اخلم هغه ور باندې نه پوهیږی (په پټه یې اخلم )، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل : هغه څه چې ستا او ستا د اولاد دپاره کفایت کوي او اسراف پکې نه وي واخله ولو که هغه ورباندې پوه نه شي (ځکه د ښځې او اولاد نفقه پر خاوند واجبه ده ) .

**خپلې ښځې او اولاد ته د نفقې برابرولو د فضیلت په اړه جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي :**

دِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ في سَبيلِ اللهِ ، وَدِينار أَنْفَقْتَهُ في رَقَبَةٍ ، وَدِينارٌ تَصَدَّقْتَ بِهِ عَلَى مِسْكِينٍ ، وَدِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ ، أَعْظَمُهَا أجْراً الَّذِي أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ ( رواه مسلم) .

يعني : يو هغه دينار دی چې د الله جل جلا له په لار کې صدقه شي ، بل هغه دينار دی چې غلام باندې مصرف شي ، او بل هغه دينار دی چې په مسکين باندې صدقه شي ، او بل هغه دينار چې پخپل اهل خرڅ شي ، تر ټولو د هغه اجر زيات دی کوم چې د خپل اهل د پاره نفقه او خرڅ شي .
په پورته حديث شريف کې د الله جل جلا له په لاره کې خرڅ ، دغلام د آزادولو لپاره خرڅ او غريبانو سره د کومک لپاره خرڅ کې غوره خرڅ د خپل اهل عيال لپاره خرڅ يا د نفقې د پاره مصرف ښودلی دی .
بل حديث کې راغلي : «إِذَا أَنْفَقَ الرَّجُلُ عَلَى أَهْلِهِ يَحْتَسِبُهَا فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ». (بخاری:۵۵)
ابن مسعود (رضی الله عنه ) وايي جناب رسول الله( صلی الله عليه وسلم ) فرمايي : که څوک د ثواب په نيت پخپل اهل او عيال خرڅ وکړي د هغه دا نفقه کول صدقه شميرل کيږي .

**ج) : مسکن ( استوګنې ځای ) :**
خاوند به خپلې ښځې ته د خپل اقتصادي توان موافق د استوګنې ځای برابروي چې حد اقل د ځانته اتاق برابرول دي ، الله جل جلا له فرمايي : ( أسكنوهنَّ من حيث سكنتم مِن وُجدكم ولا تُضاروهن) الطلاق/٦.
يعني : دوی په هغه ځای کې چې تاسې پخپله اوسيږئ د خپل وس په اندازئ واوسوئ (د استوګنې ځای ور ته برابر کړئ ) او دوی ته ضرر مه رسوئ .

**۲ـ غير مالي حقوق :**
د ښځې پر خاوند باندې غير مالي حقوق لکه : د ښځو تر مينځ عدل ، ښه سلوک او داسې نور ..........
**الف ) : د ښځو تر مينځ د عدل ساتل** : که د شرايطو برابريدو په صورت کوم کس دوهم واده وکړي نو په نفقه ، سلوک او مسکن کې به د هغوی تر مينځ عدل کوي .
**ب ) ښه سلوک :** خاوند به د خپلې بی بی سره تر خپله وسه نيک سلوک کوي او د هغوی پر وړاندې به مهربانه چلند کوي قرآنکريم د ميرمنی سره د ښه سلوک کولو امر کړی دی :
((وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا) ) النساء ١٩
(( اوله هغی سره په ښه طريقه ژوند تير کړی ، بيا که هغه ستاسی (په څه وجه ) خوښی نه وي نو کيدای شي چې يو شی ستا خوښ نه وي خو الله جل جلا له په هغه کی ستاسو لپاره ډيره څه ښيګڼه ايښی وي)) .
نو يو انسان خو به خامخا يوه خاليګاه يا څه نيمګړتيا لري مثلاً که کومه ښځه په رنګ کې کمزورې وي نو شايد بل اړخ ته يوه ډيره ديندار‌ه او نيک خويه وي چه د خپل خاوند د دنيا او آخرت د نيکبختی سبب وګرځي .
رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : ((ان أكمل المؤمنين إيمانا أحسنهم خلقا . وخياركم خياركم لنسائهم )) (ترمذي ١١٦٢،مشكاة المصابيح ٣٢٠٠) .
ژباړه : د ايمان په اعتبار سره ستاسو کښې کامل ايمان والا هغه څوک دی چه د هغه اخلاق اوخوی ښه وي او تاسی کې بهترين اوغوره هغه دی چه د خپلی ښځې سره يې سلوک ښه وي .
وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ الله عَنْهَا قَالَتْ: بَيْنَا أَنَا مَعَ النَّبِيِّ (صلی الله عليه وسلم ) مُضْطَجِعَةٌ فِي خَمِيصَةٍ، إِذْ حِضْتُ، فَانْسَلَلْتُ، فَأَخَذْتُ ثِيَابَ حِيضَتِي، قَالَ: «أَنُفِسْتِ»؟ قُلْتُ: نَعَمْ، فَدَعَانِي، فَاضْطَجَعْتُ مَعَهُ فِي الْخَمِيلَةِ. (بخاری: ٢٩٨)
د مؤمنانو مور ام سلمه (رضی الله عنها )وايي : د رسول الله (صلی الله عليه وسلم ) سره په يوه چادر کې بيده وم چې حايضه شوم په کراره مې ځان بيرون کړ او د حيض جامې مې واغوستلې . رسول الله صلی الله عليه وسلم پوښتنه وکړه ؟ ايا حايضه شوې ؟ ومې ويل : هو بيا يې زه ور وغوښتم او له هغه سره په هماغه چادر بيده شومه .
مطلب دا چې د ښځې سره د حيض او نفاس په موده کې خوړل ، څملاستل نور ټول روا دي يوازې جماع کول حرام دی د جاهليت په دور کې به چې کله ښځې حايضې يا نفاسې شوې نو څخه به لرې کيدل او کرکه به يې ورڅخه کوله .
**ج) ښځې ته د ضرر نه رسول :** دا د اسلام اصل دی چې هيڅ څوک به چا ته ضرر نه رسوي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :( ( لاضرر و لا ضرار فی الاسلام ) )ابن ماجه. يعني په اسلام کې ځان او بل ته ضرر رسول نشته .
ښځې ته به بدني ، لفظي ضرر نه رسوي او د ښځې خپلوانو سره به داسې چلن نه کوي چې دا ورباندې وځوريږي بلکې نيک چلن به کوي .

د خاوند باید دې ټکي ته پام وي چې د ښځې د پاره پلارګنۍ خاص اهمیت لري او د ښځې د ډاډ ، تسل او څو ورځو تیرولو همدا یوه دروازه ده . پام کوه دا دروازه د هغې پر مخ و نه تړې ! پام کوه د هغوی سره بد چلن ونه کړې تر څود ښځې د ځور او خفګان سبب نه شي .
په هغه صورت کې چې خدای مه کړه ښځه بې لارې ته بدې ووهي نو په ځنو حالاتو کې میړه چې د ښځې مشر او مسئول بلل کیږي د هغې د اصلاح د پاره څه لږ بدني تأتیب کولای شي .
عن جابر بن عبد الله قال : قال صلى الله عليه وسلم في حجة الوداع : " فاتقوا الله في النساء فإنكم أخذتموهن بأمان الله واستحللتم فروجهن بكلمة الله ولكم عليهن أن لا يوطئن فرشكم أحدا تكرهونه فإن فعلن ذلك فاضربوهن ضربا غير مبرح ولهن عليكم رزقهن وكسوتهن بالمعروف " .
جابر رضى الله عنه وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم په حجة الوداع وفرمايل : د ښځو په باره کې له الله جل جلا له څخه وویریږئ تاسي هغوی د الله جل جلا له په امان اخیسي دي او تاسي ته د هغوی شرمګا د الله جل جلا له په کلمه حلال شوي او ستاسي په هغوی باندې دا حقونه دي چې هغوی به ستاسي فرشونه داسي چا ته نه غوړوي چې تاسي یې بد ګنې ( کوم څوک چې د تاسي خوښ نه وي هغه بې اجازې کور ته نه ننباسي ) که یې داسي وکړل نو هغوی ووهئ لږ وهل چې زخم کونکي نه وي او همدارنګه د هغوی پر تاسي باندې دا حق دی چې هغوی ته به په ښه شان نفقه او د استوګنې ځای برابروئ ( رواه المسلم ١٢١٨ ) .

## دریمه مرحله د مور مقام :

په دې مرحله کې په اسلام کې مور خاص مقام وقار او منزلت لري چې اولاد ته د مور سره د ښه سلوک کولو ډیر ټینګار شوی دی او د پلار په نسبت مور درې چنده زیات حقوق لري .
وقال الله تعالى(( وَاعْبُدُواْ اللّهَ وَلاَ تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا).) النساء: ٣٦) .
او د الله عبادت وکړئ او د هغه سره هیڅ شی مه شریکوئ ، او د خپل مور او پلار سره نیکي وکړئ
او فرمايي : ((وَوَصَّيْنَا الإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَى وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ ))(لقمان ١٤ )
او مونږ انسانانو ته د خپل مور او پلار په حق پیژندنې ټینګار کړی دی . د هغه مور د کمزورۍ له پاسه کمزورۍ په حال کې هغه را اخیستی په خپله ګیډه کې یې وساته او دوه کلونه یې په تي ورکولو و لګیدل . ( له همدې کبله مونږ هغه ته نصیحت وکړ چې ) زما شکر وکړه او د خپل مور او پلار شکر پر ځای کړه .د البخاري (٥٥١٤) اومسلم (٤٦٢١) حدیث شریف دی :
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ ، مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِي ؟ قَالَ : أُمُّكَ . قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ : ثُمَّ أُمُّكَ . قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ : ثُمَّ أُمُّكَ . قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ : ثُمَّ أَبُوكَ .
ابی هريرة رضی الله عنه وايي : رسول الله (صلى الله عليه وسلم )ته یو سړی راغی او ویې ویل : په خلکو څوک په ما باندې زیات حقداره دي ؟ و یې فرمایل : ستا مور ، ویې ویل بیا څوک ؟ و یې فرمایل : بیا ستا مور ، ویې ویل : بیا څوک ؟ و یې فرمایل : بیا ستا مور ، ویې ویل بیا څوک ؟ و یې فرمایل بیا ستا پلار .

## ب ـ دښځوزده کړه داسلام له نظره:

سړی او ښځه د انساني ټولنې دوه محترم او عزتمند غړي دي چې دواړه د یوبل سره مرسته کوي او په خپلو ساحو کې په کار کولو سره د یوبل پوره کوونکي دي.
سړی که د کور د انګړ څخه بهر په پټي، دوکان، فابریکه، دفتر او کار ځای کې انساني ټولنې ته د قدر وړ خدمت وړاندې کوي، نو ښځه هم د کور په انګړ کې دننه د خپلې کورنۍ په سمبالښت او د اولاد په روزنې سره دغې ټولنې ته روزل شوي د کار غړي تقدیموي.
سړی که د کور څخه بهر ټولنې ته خدمات وړاندې کوي او په نتیجه کې یې د خپلې کورنۍ اړتیاوې پوره کوي، نو ښځه د کور دننه دغه اړتیاوې ټاکي او د سړي ګټل شوې لاس ته راوړنه په سمه توګه د یو نوي نسل په تیارولو کې لګوي.
د پورته سریزې څخه دا نتیجه لاس ته راوړی شو چې سړی او ښځه د یوبل سره مقابله او مسابقه کوونکي نه بلکه د یوبل سره مرسته کوونکي دي.
د انساني ټولنې د دغه دوه غړو لپاره د هغوی د کار ساحه معلومول د یوې سالمې پوهې او روزنې په واسطه لاس ته راځي، کومه پوهه او روزنه چې په سالمو وسایلو حاصله شي، نو ویلی شو چې پوهه حاصلول د انساني ټولنې د واړو غړو اړتیاده

او پرته له پوهې او تعليم څخه هر يو خپل کار په سمه توګه نه پيژندلی او نه يې عملي کولی شي.
د انساني ټولنې دې اړتيا ته اسلام د لومړيتوب حق ورکړيدي او د فطرت او طبيعت خالق او مالك چې د انساني ټولنې د اړتياو او ضرورتونو د پوره کولو لپاره کوم حکمونه راليږلي په هغې کې يې د ټولو څخه مخکې د پوهې لاس ته راوړلو حکم کړيدی او د خپل ستر پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم په واسطه يې د انساني ټولنې هر غړي ته داحکم کړيدی چې لوستل کوه د خپل هغه پالونکي په نوم چې هرڅه يې پيدا کړيدي.
دوه صفتونه پدې آيت کې الله تعالی د لوستلو او د پوهې د حاصلولو د امر سره خپل دوه صفتونه هم ذکر کړيدي: رب، خالق، او ددې دواړو صفتونو د ذکر کولو معنی هم دلته داده چې کوم ذات ته پيدا کړي يې هغه ستا پالونکی هم دی او د پالنې د نورو برخو په څير يې تاته د پوهې او زده کړې د لاس ته راوړلو صلاحيت هم درکړی دی چې دادهرې برخې څخه مخکې دي.
د دغه صفتونو سره يو ځای د پوهې د لاس ته راوړلو حکم هغه چاته شوی دی چې په هغه کې د پوهې د لاس ته راوړلو صلاحيت موجودوي هغه که سړی وي او که ښځه دواړه بايد د الله تعالی دغه حکم عملي کړي ترڅو خپل ماموريتونه او مسئوليت وپيژني او په سمه توګه يې سرته ورسوي. پر مخ تللې ټولنه هغه ده چې د الله تعالی دغه حکم په سمه توګه عملي کړي او د ټولنې دواړه غړي د خپل کار د ساحې د اړتياو موافق په سمو سايلو پوهه لاس ته راوړي، او کومه ټولنه چې دواړه يا يو غړی يې د پوهې څخه بې برخې پاتې شي، يا په ناسمو وسائلو پوهه لاس ته راوړي، ياد خپل کار د ساحې پر ځای د بل ساحې ته ننوځي نو دغه ټولنه پرمختګ پر ځای د هلاکت او تباهئ سره مخ کيږي.
افغاني ټولنه چې يوه مسلمانه ټولنه ده او وګړي يې ټول د اسلام د مبارك دين پيروان دی، نه يوازې دا چې د دغه ټولنې يو غړی يعنی ښځه د پوهې لاس ته راوړلو څخه ليرې پاتې شوې بلکه دو هم غړی ( سړی) يې هم په هغه اندازه د پوهې په برخه کې لاس ته راوړنې نه لري کوم چې د دغه ټولنې اړتياوې پوره کړي، نو دغه رنګ يوه ټولنه خو پرمختګ لاڅه چې د پرمختګ خوب هم نه ويني.
خو ددې په مقابل کې هغه ټولنې چې دواړه غړي يې په پوره اندازه پوهه لري او په ښکاره مونږ ته دېرې پرمخ تللې ښکاري هغه هم د تباهئ د کندې پر غاړه ولاړې دي ځکه چې د هغې ټولنې دواړو غړو په طبعي او فطري ډول په سمو وسائلو پوهه لاس ته نده راوړې بلکه د يوبل دکار ساحې ته ننوتي چې له امله يې يوبل سره مسابقه، مقابله، سيالی، نفرت او کرکه پيل کړې ده.
د ښځو پوهه او تعليم د اسلام له نظره هيڅ اشکال نه لري، او په عقلي ډول هم ددې د اهميت څخه څوك انکار نشي کولی، په قرآن کريم کې چې څومره آياتونه د علم او پوهې په هکله راغلي هغه يوازې د سړي لپاره ندي، بلکه ښځه هم پدې ماموره ده چې د خپل رب د حکم پرځای کولو لپاره پوهه لاس ته راوړي، ځکه چې قرآنکريم د انساني ټولنې د اصلاح او لارښوونې لپاره راليږل شوی، او دغه ټولنه د سړو او ښځو دواړو څخه جوړه شويده.
او د اسلام د ستر پيغمبر صلی الله عليه وسلم څرګندونې خو پدې اړه دېرې ښکاره دي،((طلب العلم فريضة علی کل مسلم ومسلمة)) تردې چې دغه پاك پيغمبر يوې مسلمانې ميرمن، شفاء رضی الله عنها، ته امر وکړ ترڅو چې د مسلمانانو مور حفصې رضی الله عنها ته ليکل زده کړي"
د بخاري او مسلم په روايت کې راغلي دي چې" يو وار يوه ښځه نبي عليه السلام ته راغله او ورته يې وويل: سړو ستا څخه خبرې يادې کړې، زمونږ لپاره هم يوه ورځ وټاکه ترڅو ستا خبرې واورو او زده يې کړو، نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته وويل چې: په فلانۍ ورځ راټولې شئ نو هغوی به رايو ځای کيدې او نبي عليه السلام به ورته ښوونه کوله.
دوه درسونه:
پدې حديث کې د نورو درسونو پرته دوه درسونه دېر ښکاره دي:
اول: ښځه هم د پوهې د لاس ته راوړلو داسې حق لري لکه سړی.
دوهم: ښځه بايد د سړو سره يو ځای نه وي بلکه د هغو د تعليم لپاره ځانته ځای او وخت په کار دی.
که د ښځو په تعليم کې دغه اصول په نظر کې ونيول شي نو بيا کوم شی دی چې يوه مسلمانه ښځه د تعليم د حق څخه منع کړي، د اسلام پيغمبر صلی الله عليه وسلم خو هغه چاته د جنت زيری ورکړيدی څوك چې په خپلو لاس لاندې ښځو باندې تعليم وکړي هغوی وروزي او ادب ورته زده کړي.
امام ترمذي او امام ابوداود په خپلو د حديث په مشهورو کتابونو کې دا حديث ذکر کړيدی چې نبي عليه السلام ويلي دي" څوك چې درې لونه يادرې خويندې يا دوه لونه او دوه خويندې لري هغوی ته ادب زده کړي، او احسان ورسره وکړي او بيا

یې په ښه او مناسب ځای کې واده کړي نو الله به یې جنت ته داخل کړي.
پدې کې هیڅ شك نشته چې د تعلیم او پوهې پرته ادب مینځ ته نه راځي، تعلیم هغه څه دی چې د انسان څخه انسان جوړوي خو پدې شرط چې تعلیم انساني تعلیم وي نه حیواني.
دغه رنګ د هغه شي څخه بل لوی احسان نشته د کوم په واسطه چې انسان خپل ځان، خپل رب او د خپل ژوند مقصد وپیژني او هغه پوهه ده.
د اسلام په تاریخ کې مونږ د ډېرو ښځو نومونه وینو چې هغوی د ټولنې په بیلابیلو ساحو کې کار کړیدی او خپل خدمتونه یې وړاندې کړیدي تردې چې د اسلام لویو لویو علماو د ښځو په لاس زده کړې کړې دي. او د مسلمانانو مور عائشې صدیقې رضی الله عنها حال خو د چا څخه پټ ندی چې څومره صحابه او تابعین د هغې په لاس روزل شویدي او د هغې څخه یې زده کړه کړیده.
خو د مسلمانانو د کمزورۍ په نتیجه کې که یو طرف ته ښځه د زور او زیاتي سره مخ شویده نو بل طرف ته د خپل طبعي او فطري حق څخه هم محرومه شویده چې هغه د علم او پوهې حق دی.
ددغه حالت څخه د اسلام دښمنانو په ناوړه استفادې کولو سره اسلام پدې تورن کړی چې اسلام د ښځو د تعلیم مخالف دی او د خپلو شومو اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره یې د ښځو د تعلیم او د آزادۍ چیغې پورته کړیدي، ترڅو مسلمانه ښځه هم هغه تعلیم په هغه وسائلو لاس ته راوړي کوم تعلیم چې په کومو وسایلو لویدیځوالو ښځو لاس ته راوړی، چې په نتیجه کې یې اسلامي ټولنه په هغه ډول د ګواښ سره مخ شي په کوم ډول چې د لویدیځ ټولنه ورسره مخ شویده.
کورنۍ ته ګواښ:
د دې خطر په مخې ته نیولو سره مسلمانان ددې پر ځای چې د ښځې ددغه حق په خوندي ساتلو سره خپله ټولنه هم خوندي وساتي نو یا خو یې ښځه ددغه حق څخه محرومه کړې او یا په هغه لار روان شوي په کومه لار چې لویدیځوال روان شوي ، چې دغه لار انسان د هلاکت او تباهۍ کندې ته رهبري کوي او انساني ټولنه چې کورنۍ یې بنیاد دی د ستر ګواښ سره مخامخ کوي.
د غربي طرز تعلیم د سړي اوښځې ترمینځ سیالي مینځ ته راوړي او په نتیجه کې یې کورنۍ له مینځه ځي او د کورنۍ د له مینځه تلو له امله ټولنه له مینځه ځي، لکه څرنګه چې مونږ لویدیځواله ټولنه وینو.
په اسلامي هیوادونو کې چې کوم مسلمانان د ښځو د تعلیم او پوهې مخالفت کوي هغوی د تعلیم همدغه شکل ته ګوري او نتیجه تري رااخلي چې تعلیم لرونکي او کار کوونکي ښځه د کورنۍ لپاره یوه ښه میرمن نشي کیدلی او د هغې له امله کورنۍ ویجاړې او ځان ځاني مینځ ته راځي نو ښځه باید تعلیم ونه کړي، او بیا دغه مفکوره په اسلام تپل کیږي.
هیڅ کله هم داسې نه ده چې د ښځو تعلیم او پوهه دې د کورنۍ دویجاړیدو او د ټولنې د فساد لامل شي خو پدې شرط چې د سړو او ښځو تعلیم او کار ساحه او دواړو د تعلیم وسائل په سمه توګه وپیژندل شي، مونږ دغه ټکو ته په لنډ ډول اشاره کوو:
١_ پوهه باید ګټه رسونکې وي
٢_ د پوهې لپاره باید سم وسائل وکارول شي.
٣_ په سمه طریقه باید پوهه لاس ته راوړل شي.
که پدې شرائطو پوهه لاس ته راوړل شي نو هیڅ ډول زیان او تاوان نه لري بلکه د کورنۍ او ټولنې لپاره فائده رسوي او د سالمې پوهې په نتیجه کې انساني ټولنه وده کوي.
فائده لرونکې پوهه هغه ده چې د هغې څرګندونه الهي شریعت وکړي یا عقل او تجربه دا ثابته کړي چې دا پوهه فائده لري.
ګټه لرونکې پوهه هغه ده چې الله وربانډې حکم کړی وي لکه شرعي علوم، یا هغه ښه ګڼل شوې او یا روا کړل شوې وي لکه هغه علوم چې د هغې څخه د ځمکې پر مخ د الله ددین د پلي کولو لپاره ګټه اخیستل کیږي، او دځمکې د جوړښت او د انسانانو د پرمختګ لامل کیږي. زیان رسونکې پوهه هغه ده چې الله ورڅخه منع کړې وي اګر که د انسان عقل هغې ته ښه وايي.
د پوهې لاس ته راوړلو لپاره لاندې وسیلې تاوان لري:
١_ د شرعي محرم پرته د پوهې لاس ته راوړلو لپاره د ښځې سفر کول، او یا په بل هیواد کې ځانته د پوهې لاس ته راوړلو لپاره اوسیدل.
٢_ د پوهې حاصلولو په دوران کې د سړو او ښځو یوځای کیدل.

د پوهې لاس ته راوړلو لپاره لاندې طریقې تاوان رسونکي دي:
۱_ د ښځې او نر ترمینځ برابرښت پدې ډول چې: ښځه هم هغه علوم زده کړي کوم چې سړي زده کوي.
د ښځو د تعلیم موده او دورانیه هم په هغه اندازه وي کومه چې د سړیو ده که چیرته د ښځو لپاره په سمه توګه او سمو وسائلو سره د ګټه رسونکي پوهې لار برابره شي نو نه یوازې دا چې انساني ټولني ته به ګټه ورسوي، بلکه د اسلام یو حکم به پر ځای شي، او دغه پوهه به د کورنی د ویجاړیدو او د ټولني د فساد پر ځای د یو کامیاب ژوند او د یو منظمې کورنی د جوړیدو او د یوې سالمې ټولني رامینځ ته کیدو لامل شي، خو متاسفانه چې د ښځو د تعلیم لپاره دغه ټکي په نظر کې نه نیول کیږي نو ځکه خو کورنی او ټولني د ښځې د تعلیم په وجه د ګواښ سره مخ شوې او غربي ټولنه ددې ښه دلیل دی.
لویدیځ اوس کوښښ کوي چې هغه مرض اسلامي ټولنو ته انتقال کړي کوم مرض چې د هغو ټولنه د زوال او تباهی طرف ته روانه کړیده، ددې کار لپاره غربي ټولنه په ځانګړې ډول امریکا کوښښ کوي چې افغاني ښځه په ټولو ساحو کې د سړو سره برابره شي، په هغه طریقه او وسایلو، پوهه حاصله کړي په کومو یې چې سړي حاصلوي ترڅو د ټولني د دواړو همکارو اعضاو ترمینځ سیالي ایجاد کړي چې په نتیجه کې یې اسلامي ټولنه او اسلامي کورنی په هغه ډول له مینځه لاړه شي په کوم ډول چې غربي ټولنه او کورنی له مینځه تللي ده.
ددې لپاره چې دغه ساحه بل چاته پرې نږدو نو باید افغاني ټولنه د ښځو د تعلیم لپاره زمینه برابره کړي د هغوی د کار د ساحې مطابق په سمه توګه په ښو وسائلو د هغوی د تعلیم لارې چارې وسنجول شي، او د ښځو د تعلیم په اړه دې له دوه کارونو څخه ډډه وشي:

**اول: د ښځو د تعلیم او پوهې مخالفت:**
دوهم: په غربي طریقه او وسایلو ښځو ته د پوهې زمینه برابرول.
د ښځو په تعلیم کې د دغه دواړو کارونو څخه د ځان ساتلو په نتیجه کې به افغاني ټولنه په واقعي ډول یوه اسلامي، یو موټې پرمخ تللي ټولنه جوړه شي او که مونږ ښځې د تعلیم څخه منع کړو نو دا ټولنه به یوه ناپوهه او وروسته پاتې ټولنه وي او که په غربي طریقه او وسائلو ښځو ته د تعلیم زمینه برابره کړو نو زمونږ د ټولنې څخه به یوه بې دینه، خوره وره او ړنګیدونکي فاسده ټولنه جوړه شي.

## دریم څپرکی

## په اسلام کې د پلان جوړونې ارزښت:
څرنګه چې اسلام یو جامع او شامل دین دی او د انسان د لارښوونې ، دنیائي نیکمرغی او اخروي بریا لپاره یې د قران عظیم الشان او نبوي مبارکو حدیثو په رڼا کې د ژوند ټول اړخونه په بشپړه توګه روښانه کړي دي او د ژوند د تیرولو لپاره یې ورته په هر ډګر لارښوونه کړې ده ، د یو مسلمان ژوند یا وخت باید عبث تیر نشي بلکه د الهي احکامو سره سم هر ګام پورته کړي ددې لپاره پکار ده چې مسلمان د خپل ژوند تیرولو لپاره یو پلان ا و مهال ویش ولري ، دا چې په اسلام کې څومره د پلان په هکله پاملرنه شوې ده ، نو اړینه ده چې د سپیڅلي دلایلو څخه یو څو نمونې وړاندې کړي.
۱_ الله ج فرمائي: (( ان الصلوة کانت علی المؤمنین کتباً موقوتا)) الایة
ژباړه: بیشکه لمونځ پرمؤمنانو په ټاکلي وختونو کې فرض شوی دی.
د هر لمانځه لپاره د وخت ټاکل د یو پلان له مخې شوی دی چې د انسان توان او اړتیاوې پکې په نظر کې نیول شوي دي.
۲_ یا دا چې د رمضان المبارک د میاشتې روژې چې الله ج فرمایي (( کتب علیکم الصیام کما کتب علی الذین من قبلکم...))
شهر رمضان الذی انزل فیه القران....)
ژباړه: په تاسو باندې روژه فرض کړای شوې ده لکه څرنګه چې له تاسو څخه په مخکنیو خلکو فرض کړای شوې وه. ....
میاشت د رمضان هغه میاشت چې قران پاک پکې نازل شوی دی.
نو د رمضان میاشت د روژې لپاره خاص کول او بیا یوه میاشت روژې فرض کیدل د یو پلان سره سم دی داسې نه ده چې هر کله او هر څومره څوک وغواړي روژې دې ونیسي .
د نبي کریم صلی الله علیه وسلم بعثت بیا په پټه دعوت بیا ددعوت څرګندول د مسلمانانو حبشې او مدینې ته هجرت ، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په لاسونو د نبوي مسجد جوړیدل د قبلې بدلول، د بدر غزا ، په احد کې په یوه خاص کنډو کې د

ځو صحابه کرامو ځای پر ځای کول، د احزاب په غزا کې د خندق ویستل ، د حدیبې سوله ، د مدینې د یهودیانو سره تړون ، د مکې فتح او د مشرکینو عامه بخښنه دنکاح فرضیت ، د چا سره نکاح روا او د چا سره ناروا ده په کومو شرطونو نکاح کیدای شي او په کوم وخت کې له منځه ځي د میراث احکام ، در ضاع احکام ، د نسب د ساتلو احکام ، بیع په کومو شرطونو او د چا تر منځه صورت نیسي په کومو شیانو له منځه ځي ، دسفر لپاره اندازه معلومول ، او بیا د سفر احکام ، د مړي تدفین او تکفین لنډه داچې د ژوند هر اړخ یا ټول عبادتونه ، احکام، اخلاق او معاملات اسلام د یو عملیاتي پلان په چوکاټ کې اچولي

۳_ د زکوة لپاره د نصاب ټاکل او بیا په هر جنس کې ټاکلی اندازه معلومول ، همدارنګه د زکوة مستحقین معلومول دا ټول د پلان له مخې دي تر ځو هر څوک له اړتیا زیات مال څخه بیوسو ته هم یو څه ورکړي تر ځو د ټولنې تله برابره شي.

٤_ د حج لپاره وخت ټاکل: الله ج فرمایي: (( قل هی مواقیت للناس والحج ))

دغه د سپوږمی لویدل او کوچني کیدل خلکو ته د وختونو او حج په هکله معلومات ورکوي بیا دا چې د حج لپاره احرام څنګه او له کومه ځایه وتړل شي، کوم رکن اول او کوم وروسته اداء شي همدارنګه د حج منهیات او نواقض کوم دي دا ټول یو پلان دی چې که لږ کمې زیاتی یا هم مخکیوالی وروستوالی پکې رامنځته شي نو د قبول او منلو وړ نه دی بلکه کوم هدف چې ټاکل شوی دی باید د پلان سره سم د هغې د تر لاسه کولو هڅه وشي. . دا او داسې په زرګونو نورې بیلګې ددې شاهدې دي چې اسلام یو پوره پلان درلودونکی دین دی ، هر هدف او شا خص پکې روښانه دی او هیڅ کار ئې هم له پلان څخه وتلی یا ګډوډ نه دی بلکه په منظمه توګه پر مخ ځي نو هر مسلمان باید خپل ټول ژوند د یو پلان سره سم پر مخ بوځي او هیڅکله بې هدفه او عبث ژوند تیر نکړي ځکه چې

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي: (( د قیامت په ورځ به تر هغې یو بنیادم هم یو قدم په بل کینږدي تر ځو چې پنځو شیانو په هکله ځواب ونه وایي . د عمر په هکله چې څنګه ئې تیر کړی دی . مال ئې له کومه پیدا کړی او په څه شي یې لګولی په خپل علم یې څومره عمل کړی ، د صحت په هکله....)). نو

هر کله چې انسان ته د ژوند لپاره یو پلان ورکړل شوی هدف یې معلوم دی شاخصونه یې روښانه دی نو انسان ایله نه دی پریښودل شوی بلکه د ژوند په پای کې (قبر ، قیامت) ترې د همدغه پلان او منابعو په هکله پوښتنه هم کیږي.

نو راځې چې خپل ژوند عبث تیر نکړو بلکه یو داسې ژوند تیر کړو چې سبا ته یې ځواب هم ووئیلی شو.

## څلورم څپرکی

## څارنه او ارزونه په اسلام کې

د بشریت له پیل څخه نیولې د قیامت تر قایمیدو پورې د انسان ژوند بې کنتروله ندی پریښودل شوی بلکه په پر له پسې توګه د هغې څخه څارنه شوې ده او دا ارزونې لپاره د حساب ورځ ټاکل شوې ده ، راځې چې الهی څارنې او ارزونې ته ددین په چوکاټ کې ځیر شو.

کله چې ادم ع پیدا شو نو یوه ارزونه یې په پیل کې تر سره شوه چې په قران مجید کې ترې داسې تعبیر شوی (( قال یا ادم انبهم باسمائهم ، فلما انباهم باسمائهم قال الم اقل لکم انی اعلم مالاتعلمون)) الایة. ژباړه: بیا ادم ع ته وویل شو چې دوې (پرېښتو) ته ددې نومونو په هکله خبر ورکړه! کله چې ادم ع خبر ورکړو ددغې نومونو په هکله نو الله ج وفرمائیل: تاسو ته مانه وئیل چې زه په هغه څه پوهیږم چې تاسو نه پوهیږئ

دادآدم (ع) ارزونه وه، بیا په جنت کې د مراقبت لاندې ؤو. تر دې چې ځمکې ته دخلیفه په توګه راواستول شو ، بیا هم هره شیبه د مراقبت لاندې وو له هغې وروسته د هر انسان د مراقبت (یعنې دوامداره څارنې) لپاره الله ج دوه ملایکې چې کرام الکاتبین ورته وئیل کیږي توظیف کړي (( وان علیکم لحفظین کراماکاتبین)) الایة. او د نظارت (وقفه یې څارنې) لپاره یې وخت په وخت پیغمبران ، کتابونه او صحیفې رالیږلې.

الله ج فرمائې: (( مونږ هر امت ته پیغمبر رالیږلی چې دوی ته لارښوونه وکړي ، دالله ج ایتونه ورته ولولی ،او دوی پاک کړئ...))

دغه پرېښتې د هر انسان مراقبت کوي، نیکې او بدې یې لیکي الله ج ته یې راپور ورکوي. او د قیامت په ورځ به هر انسان ته د هغه د اعمالو کتاب په لاس ورکړای شي. الله ج فرمائي(( الذي خلق الموت والحیوة لیبلوکم ایکم احسن عملاً))

ژباړه: الله ج هغه ذات دی چ مرګ او ژوند یې پیدا کړي تر څو تاسو و ارزوي چې په تاسو کې نیکو کار څوک دی.

همدارنګه د عمل نامی ورکول په ښي او چپ لاس د همدغي ځارني پایله ده انسان ته یې د ژوند لپاره یو دین ورکړی دی (( ان الدین عندالله الاسلام)) چي دغه دین د ژوند ټولو اړخونو ته شامل او جامع دی
(( الیوم اکملت لکم دینکم)) او د انسان لپاره پکي هر کار پلان شوی دی اهداف او شاخصونه یې ټاکل شوی دی بیا له هغي څخه په دوامداره توګه مراقبت کیږي هیڅوک بي کنټروله ندي بلکه د هغه هره خبره او کار د کنټرول لاندي دي (( مایلفظ من قول الالدیه رقیب عتید)) کله چي د قیامت په ورځ خپله عمل نامه ویني نو وایي به چي ((یویلتی مال هذا الکتاب لا یغادر صغیرة ولاکبیرة الا احصها)) په دې کتاب څه شوي دي چي وړه او لویه هر څه یې راخستي دي او شمیر کړي یې دي خو مراقبت د کوم څه څخه تر سره کیږي؟
د انسان له کړو وړو څخه چي د قران عظیم الشان او مبارکو احادیثو سره یې سم تیروي او کنه؟ کله چي انحراف کوي نو حدود او تعزیرات یې ورته ټاکلي دي تر څو بیرته خپل هدف ته وروګرځي ، او که انحرافات یې زیات او لاري ته سم نه وي نو دارزوني پر مهال (د حساب ، په ورځ) ورسره محاسبه کیږي ،ترڅووکتل شی چي د انسان اعمال اقوال، اخلاق او معاملات خپل سري ؤ او که د پلان سره سم؟ د ارزوني موده له قبر څخه پیل کیږي او د حساب په ورځ پای ته رسیږي.
په دغه موده کي انسان د خپلو کړنو پایله ویني ، په قبر کي راحت یا عذاب، په اخرت کي د عمل نامي په ښي یا چپ لاس اخستل، په پل صراط اوښتل یا غورځیدل، جنت ته تلل یا دوزخ ته او یا هم په اعراف پاتي کیدل ، په جنت کي د درجو لوړوالی او ټیټوالی، په دوزخ کي د عذاب سختي یا کمي ، د الله ج رضا یا عضب، دحورو او غلمانو دشمیرکمښت یا ډیروالی ، د الله ج دیدار اولیدل دا ټول مراقبت او د ارزوني پایله ده او هیڅ هم دالله ج له علم څخه پټ نه دی.
د ونو د پاڼو زرغونیدل او غورځیدل ، د تخم زرغونیدل ، د وچي او لمدې د مخلوقاتو خوځښت ټول د الله ج د علم او امرسره سم روان دی.
دا هم باید له یاده ونه غورځوو چي دانسان د مراقبت لپاره پریښتي توظیف دی. خو ددې سربیره الله ج هم مستقیماً هره شیبه مراقبت کوي لکه څرنګه چي پورته ورته اشاره شوې چي هر تغییر او بدلون، ښه یا بد چي رامنځ ته کیږي الله ج یې او ری ویني او پرې خبر دی (( وکفی بربک بعباده خبیر بصیرا) .
ژباړه: په بندګانو باندې د لیدلو او خبر تیا لپاره الله ج بس دی.
همدارنګه ارزونه پخپله الله ج تر سره کوي تر څو څوک دا احساس ونه کړي چي ګواکي په ارزونه کي به ظلم وشي (( و ما ظلمنهم ولکن کانو ا انفسهم یظلمون)) .
ژباړه: مونږ پردوی ظلم نه کوو بلکه دوی پخپله په خپلو ځانونو ظلم کوي.
که چیرته یو انسان یوه ویډیویي کیمره جوړولي شي چي په څو څو ساعته ریکارډ کولی شي ، یا هم سیکورټي کیمرې جوړولی شي، نو ایا الله ج، چي د ټولو مخلوقاتو رب دی د انسان کړه وړه نه شي ساتلی تر څو د قیامت په ورځ یې وروښائي . ولي نه الله ج په هر څه قادر او زورور دی.اومونږ په دی ګواهان یو.

## پنځم څپرکی

## بیکاري او د مسؤلیت نه پیژندل د اسلام له نظره:

د انسان تاریخ او الهی احکاماتو ته ځیرنه دا په ډاګه کیږي چي انسان نړۍ ته د یو څه کولو لپاره رالیږل شوی دي ، نه د بیکارۍ او لټۍ لپاره ، په کوم ځای کي چي انسان ته د عبادت حکم شوی نو په څنګ کي ئې ورسره داجتماعي ، کورنۍ ، فرهنګي اقتصادي .... ژوند په هکله هم امر شوی دی اوس ګورو چي اسلام کار ته څومره ارزښت ورکړی دی .

### ۱- کارکول عین عبادت دی:

د تیرو پیغمبرانو ژوند ته په کتنه دا معلومیږي چي ټولو پیغمبرانو د خپل دروند مسؤلیت ، رسالت او د خلکو د لارښوونې تر څنګ د خپل ځان او کورنۍ د ژوند تیرولو لپاره کار کسب کاوه.
لکه څرنګه چي ادریس (ع )خیاط، نوح (ع) ،نجار ، موسی (ع) ، شپون ، داؤد( ع) آهنګر او نبي کریم (صلی الله علیه وسلم )د ژوند په کوچنیتوب کي شپونتوب او بیا تجارت کړی دی او فرمایي چي
(( الکاسب حبیب الله)) کارکوونکی د الله ج محبوب دی .

او کله چې نبي کریم صلی الله علیم وسلم د تبوک څخه راوګرځید او د سعد رض انصاري سره یې ستړی مشی وکړه چې د هغه لاسونه کلک او زړه وو نو نبي( ص )ترې پوښتنه وکړه چې : ستا په لاسونو څه شوی دی؟
سعد( رض) ځواب ورکړو چې زه کاریګریم او د خپلو بچیانو او کورنی لپاره مزدوري کوم او نفقه پیدا کوم پیغمبر (ص) د هغه لاسونه ښکل کړل او ویې فرمایل چې : دا هغه لاسونه دي چې اور ورته نه وررسیږي.

**2- کارکوونکو ته د جنت زیری ورکړل شوی :**

(( و بشرالذین امنو او عملو الصلحت ان لهم جنت...)) ژباړه : زیری ورکړه هغه چا ته چې ایمان یې راوړی او نیک کارونه کوي چې بیشکه دوی لپاره جنتونه دي ...)
دا هغه جنت دی چې تاسو یې د خپلو کارونو په وسیله وارثان شوی.
سورة نساء ۱۲۳ مریم ٦۱ سجده ۹۱ زخرف ۷۲ بقره ۹۷ طه ۲۳ بنی اسرائیل ۹ الکهف ۱۱۰ او داسې نور ډیر ایتونه ددې ګواه دي چې د انسان هیڅ کار بې نتیجې نه دی.
نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي (( هر کله چې له تاسو څخه یو څوک کار کوي نو پوخ او پوره دي کوي .په قران مجید کې له کار څخه په مختلفو نومونو تعبیر شوی چې دلته یې بیانوو.
۱_ عمل ، یعني کار ، کردار ، دغه کلمه په قران مجید کې ۳٦٦ وارې راغلې ده چې دکال دورځو سره سمون خوري یعني هره ورځ باید انسان کار وکړي او بیکاره او بې مسؤلیته نه کیني.
۲_ کسب ، روزي پیدا کول ، بوختیا ،دا کلمه په قران مجید کې ٦٦ ځلې راغلې ده.
۳_ سعی : هڅه کول ، هلې ځلې کول دا کلمه قران مجید کې ۳۰ ځلې راغلې ده .
٤_ جهد: مشقت ویستل ، تکلیف تیرول ، لټه کول ، دا کلمه ٤۱ ځلې راغلې ده .
٥_ فعل: کار تر سره کول ، دا کلمه په قران مجید کې ۱۰۷ ځلې راغلې ده .
٦_ شغل : مصروفیت ، کار او بوختیا دا په قران مجید کې ۲ ځلې یاده شویده.
دا ټول پدې دلالت کوي چې اسلام کار کولو ته څومره ارزښت ورکوي. د ټولنې پرمختګ ، نیکمرغي او سلامتیا یې په کار پورې تړلې ده . او د پاک رزق پیدا کول یې فرض کړي (( وابتغوامن فضل الله)) او دغه رزق ته یې د الله ج فضل وئیلی ، نو پکار ده چې مسلمان بیکاره نه کیني او د خپل ځان کورنۍ وطن ولس او د خپل اخرت لپاره هر وخت ځان په کار مصروف کړي.
**یادونه:الله (ج)پخپله هم کارکوی څمګه چی دهغه دشان سره مناسب وی ((کل یوم هوفی شان))الرحمن**

**3 : په کار کې اخلاص**

د ټولو اعمالو دارو مدار په نیت باندې دی (( انماالاعمال باالنیات)) او هر چا ته د خپل کار ثمره د نیت په بنیاد ورکولی شي نبي کریم صلی الله علیه وسلم بل ځای فرمائي: ( د مؤمن نیت د عمل څخه بهتر دی او د کافر نیت له عمل څخه بد دی او هر څوک د خپل نیت پر بنسټ عمل کوي)
حضرت علی رض فرمائي: ( تاسو خپلو اعمالو کې اخلاص پیدا کړي نیکبخته به شئ)
او اخلاص دی ته وایي چې څوک یو کار ددې لپاره نه تر سره کوي چې څوک یې ستاینه وکړي بلکه یواځې د الله ج لپاره وي.
بل دا چې هیڅوک هم بې مسؤلیته نه دی نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي: (( کلکم راع و کلکم مسؤل عن رعیته)) هرڅوک له تاسو څخه راعی دی او له هرچا څخه به دخپل رعیت په هکله پوښتنه کیږي . عمر رض یو ځوان ولیدو چې څټ یې کوږ او پینې یې په ځان پسې راښکلې ، هغه یې یو څپیره وواهه او ورته یې وویل چې چا لاک اوسه او سستي په ځان کې مه راوله.
(( قوي مؤمن الله ج ته غوره او خوښ دی د کمزوري مؤمن څخه )) الحدیث.
داټول پدې دلالت کوي چې اسلام د کار دین دی، نه د بې مسؤلیته او بیکارو خلکو .

**۳,۱ د بیکارۍ تاوانونه:**

۳,۱,۱ **بیکاري د نفرت لامل ګرځي:** څنګه چې کار کوونکی او عبادت کوونکی د الله ج دوست دی همدغسې بیکاره سړی د الله ج د غضب او د خلکو د نفرت وړ دی.

**٣,١,٢ بيکاری عقل کموي:** کار کول د انسان دماغ غړي او فکر فعالوي او بيکاره سړی غير فعاله او ټاټي فکر ونه لري.

### ٣,١,٣ دبيکاره دعا نه قبليږي:

نبي کريم ص فرمائي : (( يو له ينځو کسانو څخخه چي دعائي نه قبليږي هغه څوک دی چي کور کي ناست وي کوشش او کار نکوي او وايي چي خدايه ماته رزق راکړی))

### ٣,١,٤ بيکاري د فقر لامل ګرځي:

څوک چي کار نکوي نو په هر څه کي بل چا ته محتاج وي او خپل هيڅ هم نلري.

### ٣,١,٥ په بيکاره سړي د الله ج لعنت وي.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمائي: (( ملعون من الذی کله علی الناس)) څوک چي په بل چا باروي هغه د الله ج له رحمت څخه ليري دي او بل ځای فرمائي: (( لعنتی دی ، لعنتی دی هغه څوک چي په خپله بيکاري خپل اولاد او کورنۍ سپکوي او خلکو ته يي اړباسي))

### ٣/١/٦ بی له زحمته راحت نشته:-٦

O - الله ج فرمايي: (( وان ليس الانسان الاماسعی))

ژباړه : انسان ته يواځي هغه څه ورکول کيږي چي کوښښ ئي وکړي.

نو بايد هر مسلمان خپل مسؤليت وپيژني د هغې د تر سره کولو لپاره هڅې وکړي او له لټۍ او بيکارۍ څخه ډډه وکړي ، تر څو د الله ج له قهر ، د مخلوق له کرکي او د خپلې اوکورنی له بې عزتۍ او سپکاوي څخه خلاص او يو نيکمرغه ، بريالی او پرمختللی انسان واوسي.

# شپږم څپرکی
# اسلام ، نظم اوټولنيزخوځښت

د اسلام مبارک دين يو سيستماتيک او منظم دين دی چي هر څه پکي د يو نظام او نظم له مخي پر مخ ځي.

څرنګه چي اسلام د انسان د ژوند د سمون لپاره مشال دی نو په ژوند پوري تړلی ټول کارونه يي د يو نظم له مخي د تر سره کولو لارښوونه کړيده.

دنظم لپاره مهم شی د فکر او عمل وحدت دی . الله ج فرمائي(( واعتصمو الجبل الله جميعا ولا تفرقوا)) ټول د الله ج په رسی ( دين ، کتاب) لاسونه کلک کړی او ډلی ډلی کيږئ مه.

د يووالی او نظم د روزني لپاره يي لمونځ په جماعت سره د اداء کولو حکم کړی دی تر څو د مؤمنانو ښکته کيدل پورته کيدل (حرکات ، سکنات) د يو امام د غږ سره سم تر سره شي ټول منظم وي او د ګډوډۍ مخه ونيول شي.

د رمضان په مياشت کي د روژو نيول د ټول اسلامي امت لپاره يوه مياشت ټاکل شوی يو شان اخترونه لري او د زکوة لپاره يو منظم پروګرام موجود دی.

د حج پر مهال يو شان لباس ، په يوه غونډۍ راټوليدل ، له يوې کوټي څخه طواف او د شيطان (دښمن) د ويشتلو لپاره راټوليدل د فکر او وحدت د يووالی روزنه ده.

په غزواتو کي د سرلښکر ټاکل، دغنيمت ويش ، د لمانځه او نورو احکامو په ټولو يو شان فرض کيدل يو نظام دی.

د احکامو په ترڅ کي د اخلاقو په هکله يو نظم موجود دی.

د مور او پلار حقوق ، د ښځي او خاوند حقوق ، د ګاونډيانو حقوق ، د غريبانو حقوق د يو مسلمان پر بل مسلمان پنځه حقونه ، د کافرانو حقوق ، د مزدروانو او غلامانو حقوق يعني ټول هغه حقوق چي په بندګانو پوري اړه لري په اسلام کي يي لارښ،ونه او ټينګار شوی ترڅو يوه ټولنه په منظمه توګه پرمخ ولاړه شي.

يو مسلمان بايد څرنګه اخلاق ولري ، د مسلمان سره د مسلمان تعامل او برخورد د ترحم او تعاطف پربنسټ وي، هيڅوک د چا په نفس ، مال ، عزت ، تجاوز ونکړي (( انمالمؤمنون اخوة) الاية (( المسلم اخ المسلم))

د اسلام ټولني بنسټ ایمان او اسلام دی. هر څوک چې مسلمان وي د هغه نفس ، مال ، عزت او ناموس خوندي دی او په بل مسلمان د هغې مجروح کول حرام دي ، حتی کوم کافران چې د مسلمانانو په پناه کې اوسيږي يا مسلمانانو ته تکليف نه رسوي اسلام د هغوی په هکله د اسان او نيکی حکم کړی دی تر څو ټول خلک په سوليزه فضا کې منظم ژوند تير کړي او د هيڅا ژوند د ګواښ سره مخ نه وي.
د جهاد پر مهال د ښځو ماشومانو او سپین ږيرو نه وژل د بنديانو سره ښه سلوک او د دښمن له وژلو وروسته د هغه د مړي سپکاوی نه کول د اسلامي نظام له مهمو سپارښتنو څخه دی.
دحدودو او تعزيراتو په برخه کې :
کله چې یو مسلمان له الهی احکاماتو سرغوړوی نو بې پوښتنی نه پريښودل کيږي بلکه دده جرم ته په کتنه د هغې سزا ټاکل شوی تر څو د ټولنې نظم د ګواښ سره مخ نه د معاملاتو په برخه کې هم یو نظام موجود دی چې راکړه ورکړه څرنګه تر سره شي تر څو د چا مال په ناحقه توګه ونه خوړل شي او هيڅوک هم تاوان ونه ويني .
نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمائي: (( لا ضرر ولا ضرار)) په اسلام کې ځانته یا بل ته ضرر رسول حرام دي او که څوک د چا له لاسه ضرر وويني نو د هغه ايمان او اسلام د پوښتني لاندې راځي.
ددې هر څه سربيره اسلام خپل سياسي، معاشي، اقتصادي ، اجتماعي ، اخلاقي، فرهنګي ... نظامونه لري اوپه کلی توګه د هر چا حق يې خوندي کړي دی تر څو هيڅ مسلمان بلکه هيڅ انسان د بل د لاسه ضرر ونه ويني چې د ټولني نظم د ګواښ سره مخ نشي او که هر څو ک ددې لامل ګرځي نو ورته عبرت ناکه سزا ورکوي، ترڅو دغه بدي نورې ټولنې ته سرايت ونکړي او د ټولني نظم خوندي پاتې شي او هر څوک په پوره ډاډ سکون او سوليزه توګه د خپلو کورنيو سره د الله ج د اطاعت او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د لارښوونو سره سم ژوند وکړي .

## ټولنيز خوځښت څه ته وايي؟

ټولنه له فرد، دهغو لپاره د موجودو منابعو، فرصتونو او له هغه ګروپونو څخه چې د وګړي د سمون، تغيير او تبديل لپاره منځته راځي جوړه شويده. فرد ته ټولنيز يا اجتماعي حيوان هم وايي. يا په بل عبارت، د حيواناتو او انسانانو ترمنځ يو د مهمو توپيرونو څخه ددوي ټولنيزتوب دی. ټولنيزتوب ديوځای کيدو، يوځای اوسيدو، يوځای راټوليدو، يو ځای کارکولو او يو ځای ژوند کولو له لاري چې د ژوند هر اړخ تر پوښښ لاندې نيسی، د ګډ لرليد، هدف، مقصد او فعاليتونو په موخه ترسره کيږي منځته راځي .
ټولنيز خوځښت هغه دي چې ټولنه داسې هر اړخيز علم او خوځنده شعور او متحرک فکر څښتن شي چې د خپل ګډ لرليد په موخه يی عمل کولو ته مجبور کړي. په ټولنيز خوځښت کې يوازي د علم زياتېدل او يا ټولنيز ويښت کفايت نه کوي او ورسره د فکر سمون هم بسنه نه کوي. ريښتينی ټولنيز خوځښت هغه دی چې علم زيات، فکر دعلم مطابق سم، تغيير او يا تبديل شی او ددواړو پر بنسټ مناسب چلند او سلوک اختيار ترڅو ټولو فکری او سلوکي زده کړو ته د عمل جامه ورواغوندي او ټولنه دومره غښتلي شي چې دهماغه بدلونونو، سمه ونو او سلوکونو په خپلولو کې ستاسو څخه پيروي وکړي .

### د ټولنيز خوځښت اصلی توکي په لاندي ډول دي:

- علم او پوهي لاسته راوړل .
- د فکر او طرز فکر تغيير، تبديل او يا سمون.
- د سلوک، چلند او عمل تغيير، تبديل او يا سمون.
- د تغيير شوی، تبديل شوی او سم شوی علم او فکر پر بنسټ عمل عيارول.
- د ټولني غښتلتيا ، ترڅو خپل حقونه او مسووليتونه او د ټولنی د بل غړی حق او مسووليتونه و پيژنی او ادا يي کړي
- په ټولنه کې ټولنيز ويښتوب منځته راوړي.
- د ټولني او ټولنيزو موسساتو اصلاحات البته د ټولنيز عدالت د اصولو په نظر کې نيولو سره يقيني کوي. د سروجينی نيدو په بيانيو او ليکنو کې په ۱۹۱۸ ميلادي کال کې د هند په مدراس کې چاپ شويدی راغلی دی:(د عدالت توکی يو د اسلام له بهترينو نمونو څخه دی، ځکه کله چې زه قرآن لولم، زه د ژوند دغه خوځنده اصول په کې مومم. يوازې روحاني اصول نه، بلکې د ورځني ژوند لپاره په کې عملي اخلاق موجود دی چې د ټولې نړې لپاره مناسب دی.)
- د ويري، ترس، تهديد، زور، ناامنی، جنګ، خشونت او بي عدالتي په ګډه له منځه وړل، ځکه په انساني ويښ شوي ټولنه کې دغو مفاهيمو ته ځای نشته، دا ټکی هغه وخت وجود لري چې انساني ټولنه په حيواني ټولنه (ځنګل) تبديل

شوي وي. ټولنيز خوځښت سياسي شعوراو پوهه رامنځته کوي نو بيا هلته منطق،استدلال ، مباحثه، مذاکره، خبرې اترې او سوله اييز چلند حکم فرما وي، نه د هغې عکس.

- په ډاينامیک ډول د په ارزښتونو، باورونو،عادتونو، رواجونواوخويونو کې اصلاحات راولي.

ټولنيز خوځښت له وګړي او کورنۍ څخه پيل اما لازمه يې داده چې په ګروپي او موسساتي ،خوځنده او ويښوونکي بڼه ډير موثر وي.

- په وړښنه ټولنه کې يوازې د مسووليت رفع کول نه بلکې د مسووليت ادا کول د ټولو دنده وي . ويښې ټولنې په ګډه خپل لرليد، ماموريت، هدفونه او مقاصد ټاکي او په دې ټول پوهه وي چې اوس ټولنه چيرته قرار لري؟ او کوم ځای ته يې بايد ورسوي؟ دوی ولې موجود دي؟ فرصتونه او ګواښونه څه دي؟ څنګه او له کومو منابعو څخه په ګټې اخيستنې مشترک لرليد ته ځان رسولای شي.

ټولنيز خوځښت څه وخت شروع شويدی؟

دا چې ټولنيز خوځښتونه چې په اقتصادي، سياسي، تجارتي، اجتماعي، مذهبي، اخلاقي، فرهنګي او ديني ساحو کې د ټولنې د بشپړ ويښتابه په موخه پيل شويدي، ټول يو تاريخ او يوه مبدا او يوه تيوري نلري. په هره زمانه او هر هيواد کې ګڼ خوځښتونه په ګڼه بڼه په مختلفو دورو کېد هماغي سيمې د سياسي، اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي حالاتو او شرايطو په نظر کې نيولو سره پيل شويدي. د ټولنيز حرکت (خوځښت) کلمه د لومړی ځل لپاره په ۱۸۵۰ ميلادي کال کې د الماني ټولنپوه لورينز ون ستين له خوا د هغه په کتاب (د فرانسې ټولنيز حرکتونه له ۱۷۸۹ څخه تر ۱۸۵۰ پوري) معرفي شوه .

د امريکا د مدنی حقونو تحريک يو له معاصرو او ډيرو مشهورو ټولنيزو خوځښتونو څخه ده چې په شلمه پيړي کې پيل شو. ددې تحريک مشر مارټين لوتر کينګ د لينکولن ميموريل مخامخ د دندو او ازادۍ لپاره د واشنګټن په لورد مارش په جريان کې په ۱۹۶۳ کې د (زه يو خوب لرم) تر نوم لاندې بيانيه ورکړه.

ځيی تاريخپوهان وايي چې دا خوځښتونه د فرانسی له انقلاب او يا په ۱۷۹۱ کې د پولنډ داساسی قانون لومړني ټولنيز خوځښتونه دي، اګر چې چارلس ټيلی وايي چې د برتانويانو د (ابوليشنسټ) خوځښت دعوا لري چې دوي لومړني ټولنيز خوځښت دي. په ۱۹۴۵ ميلادي کال کې وروسته د دوهمې نړيوالې جګړې له کټلو څخه بريتانيا د اساسي تغييراتو او اصلاحاتو دورې ته ننوتله. له جګړې وروسته د ښځو د حقونو، مدني حقونو، سولې، د زروي اسلحو ضد او د چاپيريال ساتنې خوځښتونه پيل شو .

ځينی بيا وايي چې دا د رينايسانس له دورې سره تړاو لري. دا د انګريزی ژبې له دوو کلمو څخه ترکيب شويده. يوه) ري) يعني بيا او بله (نايسانس) يعنی پيداينښت چې ټوليزه معنی يې ده، (بيا پيداينښت). دا يو کلتوري خوځښت دی چې اکثره مورخين وايي چې په څوارلسمه پيړي کې د ايټاليا د فلورينس په ولايت کې پيل او تر ۱۷ پيړي پورې نورې اروپا ته وغزول شو.

په همدې ډول نور خوځښتونه پيل چې ځينو په اقتصادي او سياسي حزبونو هم بدل شول، د کمونيزم، سوشل ډيموکراټيک او د شنو خلکو ډلې يې و زيږولې .

پورته تاريخي حقايق دی اما هغه حقايق چې هم تاريخ، انسانيت او اسلام ټول يې تاييدوي او هيڅوک يې رد نشي کولاي، په دغسې مواردو کې له نظر څخه غورځيږي. زه غواړم چې د تاريخي، انساني او اسلامي حقايقو په رڼا کې د ټولنيز خوځښت تاريخچه په لنډ ډول ذکر کړم:

ټول اسماني او الهی اديان د ولس، قوم او ټولنې د ويښتابه او بيدارۍ او انسان جوړونې لپاره را استول شويدي. اخرني کتاب چې قرآن کريم دي او محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم چې د ټول انسانيت ناجي او داعي دي په شپږمه ميلادي پيړي کې دا خوځښت شروع کړيدي. درسول الله صلی الله عليه وسلم حجه الوداع خطبه د بشريت په تاريخ کې څوک نشي ردولاي چې څومره عادلانه او په انساني ارزښتونو ولاړه وه .د مشرکينو پر خلاف چې لوڼې به يې ژوندي خښوولي د (بای ذنب قتلت، په کومه ګناه وژل شويدی) آيت را نازل شوي چې دا د ښځو د ژوند حق نه دی نو څه دي؟

رسوالله صلی الله عليه وسلم ته الله جل الله فرمايي: (ياايها المدثر، قم فانذر .(ای په برستن کې نغښتې! جګ شه او ولس وويروه! يعني ويښ يې کړه، بيدار يې کړه، د الله تعالی له عذاب څخه يې خبر کړه. بيا الله جل جلاله فرمايي) :انا ارسلناک شاهدا و مبشرا ونذيرا و داعيا الی الله باذنه و سراجا منيرا .(موږ ته شاهد (ګواهی ورکوونکی)، زيري ورکوونکی، ويروونکی، او د الله تعالی په خوښه مو د

الله تعالی طرف ته بلوونکي او بلېدونکی څراغ استولی يی. په دغه آيت کې د رسوالله صلی الله عليه وسلم نقش د يوه قوم د بيدارولو، ښه لاره ښودلو او د يوه بلوونکي ده. همداسي الله جل جلاله فرمايي) :ياايهاالرسول بلغ ما انزل اليک من ربک)، ای رسوله، هغه څه چي ستا د رب له خوا تاته نازليږي، هغه (ولس) ته ورسوه. ترڅو بيدار او ويښ شي. همداسي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: (نما بعثت معلما)، زه يو ښوونکي استول شوي يم. د ښوونکي اصلي دنده د علم ښودل، د فکر او عمل سمون، تغيير او تبديل ده. خلک له جهالت او تيارو څخه د رڼا طرفته ويستل دي (.... لتخرج الناس من الظلمات الی النور).... ترڅو خلک له تيارو څخه رڼا (علم او پوهي) ته وباسي او دا هغه وخت امکان لري چي هغوي بيداره وي. هغوي په ښه او بد پوهه شي .

په همدې ډول که موږ له شاته ولاړ شو. آدم عليه السلام او بی بی حوا ته امر شو: (ولا تقربا هذه الشجره فتکونا من الظالمين). دغه ونې ته مه نږدې کيږي، له ظالمانو څخه به شي. همداسي نوح عليه السلام چي د انسانانو دوهم پلار هم ګڼل کيږي. خپل زوي ته نصيحت کوي چي: (يا بنی ارکب معنا، ولا تکن من الکافرين). کله چي طوفان راغی نو خپل زوي (چي نافرمانه وو) ورته وفرمايل :چي ای زويه! راځه زموږ سره په کښتی کې سپور شه، او له کافرانو څخه مه کېږه. همداسي ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته (چي مشرک وو) وايي: (ياابتی لما تعبدوا ما لايسمع ولايبصر و لايغنی عنک شيئا). ای پلاره! دهغو (شيانو (چي نه اوري، نه ويني او نه تاته کومه ګټه او تاوان رسوي، ولي عبادت کوي؟ او بيايي ورپسي وفرمايل: (اذ قال لابيه و قومه ما هذه التماثل التی انتم لها عاکفون). کله چي ابراهيم عليه السلام خپل پلار او قوم ته وويل: دا دکوم شيانو چي تاسو عبادت کوي دا تشي مجسمي دي .

په لنډ ډول که موږ دقيق متوجه شو، له آدم عليه السلام څخه نيولي تر محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم پوري دوي ټولو خپل قوم او ولس پخوا له دې چي د رينايسانس تحريک پيل شي، د ټولني او ولس د بيدارولو لپاره ولسونه بسيج کړل. هغه څه چي په تاوان او زيان وو، له هغوي څخه يې ووېرول، هغه څه چي يې په ګټه وو، هغو ته يې تشويق کړل. نو که موږ ديني متونو ته دقيق متوجه شو، هلته دولس د ويښتابه لپاره دقيق احکام موجود دي. بلکي غربي علما او مستشرقين هم په دې نظر دي چي اروپا ته د اقتصادي ودې او تکنالوژي عمومي اصول په قرآن کريم کي موجود دی .د ټولو علومو او تحريکونو اساسات، اصول او منابع دلته ذکر شويدي. د صحت، طب، زراعت، انجنيري، د حکومتونو د ډول، ټولنيزو خوځښتونو، سياست، تجارت، اقتصاد، قانون، بشري حقونو، تحقيق او څيرني او حتي ژورناليزم، فزيک، کيميا، بيولوژي، جيولوژی، هوانوردی، فضا او بر او بحر ذکر شويدي. داچي موږ مسلمانان ورڅخه خبر نه يو، ځان نه پرې پوهه وو او عملي کوو يی نه، دا زما او ستا بدبختی ده .

پردې سربيره د ټولنيز خوځښت لپاره تر ټولو مهم ټکی ټولنيز عمل او اجتماعيت دی. په اسلام کي تل په اتفاق، يووالی او اجتماع باندي ټينګار شويدی. د جَمعي، جُمعي او اخترونو لمونځونه فرض کول، په عرفات کي ټول را غونډېدل، د (د واعتصموا بحبل الله جميعا ولاتفرقوا) امر کول او فقراوو، مساکينو، يتيمانو، کونډو او بې وزلو سره مرستي ته هڅول د ټولنيز خوځښت اساسي تګلاره ده.)ولا تکونوا کالذين تفرقوا و اختلفوا( . د هغو کسانو په ډول مه کېږي چي تفرقه او اختلاف يې وکړ .همدارنګه په اسلام کې د کورنۍ په رسالت او اصل ترکيز او له انفراديت څخه ليري والي د همدي ټولنيز خوځښت د غوره تطبيق لپاره دی.

په تنزانيا او مصر کي اوسنی مظاهرې، په کومو کي چي تر ډېره حده له ديني شعارونو څخه ګټه پورته شوه او ولس يې منظم کړ مثلاً: ( موږ عدالت غواړو(، کوم چي د اسلام اصل او د الله جل جلاله له نومونو څخه هم يو (العدل) دی .همدارنګه دوی ويل: (په عدلي سيستم کي موږ د قانون حاکميت غواړو) کوم چي هم د الله له نومونو څخه دی يعنی (الحکم). دا مظاهرې ښيي چي که وړوکي ډله د يوه هدف لپاره منظمه شي، هغه هدف لاسته راوړای شی، اما ډېر نفوس، که متفرق او مختلف وي، هيڅ هم نشي کولای.

(يا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِی خَلَقَكُمْ وَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ، الَّذِی جَعَلَ لَكُمُ الأَرْضَ فِراشاً وَ السَّماءَ بِناءً وَ أَنْزَلَ مِنَ السَّماءِ ماءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَراتِ رِزْقاً لَكُمْ فَلا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَنْداداً وَ أَنْتُمْ تَعْلَمُونَ). ای خلکو د هغه رب عبادت مو وکړي چي تاسو او هغه څوک چي له تاسو څخه پخوا تېر شويدي، پيداکړيدی ترڅو پرهيزګاران شي. هغه رب چي ځمکه يې ستاسو لپاره هواره وګرځوله او اسمان يې چت او له اسمان څخه يې اوبه نازلې کړي او دهمدغه اوبو په نتيجه کې ميوې را زرغوني کړي، نو له الله تعالی سره بل څوک شريک مه ګرځوي او تاسو پوهېږي. په پورته آيت کي څوک کلمات ډير د تامل وړ دی او هغه (د انسانيت خلقت)، (د انسانيت د خلقت تاريخچه)، (ځمکه(،) آسمان)، (اوبه)، (ميوی) او (رزق) چي اوس ساينس په هرهمدغو ټولو ساحو کي بيل مضمونونه لري. اوس ګورو چي ټولنيز خوځښت له رينايسانس سره تړاو لري، که د اسلام له راتګ سره ايجاد شويدي، غواړم د ځينو غير مسلمو عالمانو اعترافات هم په دې اړه را نقل کړم :

ښاغلی جيرډ ډايمنډ د يو، سی، ايل، اې ټولنپوه او اراو پوه چا چي د خپل کتاب (توپک، جراثيم او اوسپنه) په ليکلو سره د پولټزر نړيواله جايزه هم ګټلي ده ليکي: (د وسط قرن (دمنځنی پيړيو) اسلام د تکنالوژي له پلوه پرمختللی او د ابتکاراتو او اختراعاتو لپاره ډير خلاص وو. د اوسني اروپا په پرتله د سواد کچه ډېره لوړه وه. په وسطی قرن کي تکنالوژي رشد په حيرانوونکی ډول له اسلام څخه اروپا ته راغی، نه له اروپا څخه اسلام ته. يوازي په ۱۵۰۰ ميلادي کي دانترنيټ ايجاد دغه جريان سرچپه کړ.) بدبختانه زموږ ډيری پوهان قرون وسطی ته د وروسته پاتي پيړيو په نظر ګوري کوم چي کاملا بې بنسټه ده.

ايم، اين رای (۱۸۸۷-۱۹۵۴ (دهند انقلابي فيلسوف، د سياست تيوريست او فعال په خپل کتاب (د اسلام تاريخی رول) کي ليکی: (په

لومړی ځل اسلام د ټولنیز عدالت نظریه معرفی کړه له کومې سره چې د ځمکې پر سر ټول قدیم تمدنونه نا اشنا ول.(
برټراندړ روسل په خپل کتاب (د غربي فلسفي تاریخ) چې په ۱۹۴۸ میلادې کال کې چاپ شویدي په ۴۱۹ صفحه کې لیکي: (زموږ دا جمله تیاره زمانه چې له ۶۹۹ څخه تر ۱۰۰۰ پورې مودې ته اشاره ده،له غربي اروپا څخه زموږ د توجهد ګرځولو هڅه ده، په داسې حال کې چې په دغه موده کې له هند څخه تر هسپانیا د اسلام ځلانده تمدن وده کړې وه. موږ ته داسې برېښي چې د غربي اروپا تمدن تمدن ده، دا زموږ تنګنظري ده) ناپیلون بوناپرت (۱۷۶۹-۱۷۲۱) وایی: (یوازې قرآن د انسان د سعادت مسوولیت پر غاړه اخیستې دی. زه هیله من یم چې هغه وخت به لیرې نه وي چې د ټولو هیوادونو ټول عالمان را ټول کړم او یوازې د قرآن پر اصولو ولاړ غیر متغییره ټولنه جوړه ترڅو ټول خلک د سعادت پر لور رهبري کړی.

د فرانسي معاصر اسلام پیژندونکي پی، ایچ کاربین وایی: (که د محمد صلی الله علیه وسلم فکر غیر منطقي وای او قرآن د الله وحي نه وای، نو هغه به جرآت نه وو کړي چې انسانیت یې ساینس ته را بللای وای. د محمد په پرتله هیڅ یوه فکر او شخص انسانان دومره ساینس ته نه دی رابللی، لکه نوموړي چې رابللی دی. څکه موږ وینو چې قرآن ۹۵۰ ځله د ساینس په اړه خبرې کړیدي.
البرټ اینسټن (۱۹۷۹-۱۹۵۵) وایی: (قرآن د الجبر او هندسي کتاب نه دی، مګر دداسې اصولو مجموعه ده چې انسانان سمې لارې ته رهبري کوي. هغه لارې ته چې تر ټولو ستر فیلسوفان ددې توان نلري چې رد یې کړي.

پروفیسور کیت مور د نړۍ په کچه د اناټومی مشهور ساینسدان او پروفیسور الفرید کرونر څوک چې د نړۍ مشهور ځمکه پیژندونکی دی، وایی: (د ډیرو پوښتنو مطرح کول او ددې په اړه فکر کول چې محمد له کوم ځای څخه راغلی دی، په هر صورت هغه د اطراف یو عرب و، موږ فکر کوو چې دا به اصلا ناممکنه وه چې هغه دهغو شیانو په اړه پوهه وي چې ساینس یې اوس ایجادوي، لکه د مخلوقاتو اصلیت، څکه چې ساینس دا په دا وروستیو کلنو کې د پیچیده او پرمختللو تکنالوژیکی میتودونو له لارې کشف کړ او پیغمبر په هماغه وخت کې په دې اړه خبرې کړیدي، نو زه حتما ویلای شم چې دا الهی وحی ده او بل څه نه ده .
چارلس ټیلي په خپل (ټولنیز خوځښتونه شلمې پیړۍ ته داخل شول) لیکنې چې په ۱۰ اکتوبر ۲۰۰۳ میلادې کال کې لیکلې په اتمه صفحه کې لیکلي چې لومړی د موبایل ټیلی کمیونیکیشن سیستم په ۱۹۷۷ کې په سعودي عربستان کې پیل شو.
په سلهاوو نورو غیر مسلمو عالمانو د اسلام په اړه ګڼې څرګندونې کړیدی لکه پروفیسور ویلیام ډبلیو هی، پروفیسور یوشودی کوسن او امریکایی پروفیسور پالمر او د ټولو له ادعاوو څخه دا ثابتیږي چې دا اسلام دی چې د ژوند په ټولو اړخونو کې بشپړې لارښوونې کړیدی، په ځانګړې ډول د هغو اختراعاتو په اړه چې ساینس کشف کړیدی او یایی د کشف کیدو په حالت کې دی. نو نړۍ باید د اسلام مرهون منت وي، نه د رینایسنس ددورې.

## ټولنیز خوځښت د چا دنده ده؟

په ټولو ټولنیزو خوځښتونو کې یو ټکي ډیر مشترک دی او هغه د ولس اصلاح ده او هغه څوک چې په دوديز سیاسي، اقتصادي او اجتماعي نظام او بیوروکراسي کې بنیادي تغییرات راوستل غواړي هغوی ته (اصلاح طلبان) یا وایي .الله تعالي په ډیرو څرګندو ټکو کې فرمایي: (ان الله لایغییر ما بقوم حتي یغییروا ما بانفسهم). الله تعالی د یوه قوم او ولس حالت تر هغې نه بدلوي ترڅو چې دوي خپل ځانونه تغییر، تبدیل او یا اصلاح نه کړي. او بیا فرمایي) :ولتکن منکم امه یدعون الی الخیر و یامرون بالمعروف و ینهون عن المنکر واولئک هم المفلحون). له تاسو څخه باید یوه ډله موجوده وي چې نیکي (چې په دې کې د ټولنې بیدارول هم شامل دی) و بولي. په معروف (نیکیو) امر او له منکر (بدو) څخه منع کول کوي او هم دوي بریالي دي. په دې آیت کې د ټولنې ویښتوب د یوې ډلې مکلفیت و باله او دایي هم ورته په ګوته کړل چې کوم کار به کوي او د هغو کسانو انجام چې ولس ویښوي هم ذکرکړ. لنډه داچې د ټولنې، قوم او ولس ویښتوب د هر فرد او ډلې دنده ده .

برعکس داسې کسان هم شته چې هغوي ټولنه وژني، په جهالت یې اخته کوي او په هغې کې بدکارونه خوروي. لکه چې الله تعالی فرمایي: (ان الذین یحبون ان تشیع الفاحشه فی الذین آمنوا لهم عذاب الیم فی الدنیا والاخره). هغه څوک چې د مومنانو ترمنځ د فحشا (هر بد کار، دلته یوازې زنا مراد نه ده). خوروي، ددوي لپاره په دنیا او اخرت کې دردناک عذاب وي. دلته یوه ټکي ته مو پام راګرځوم پرته له پیغمبرانو او صحابه وو څخه چې معصوم دي، داسې وګړي هم شتون لري چې هغوي ټولنه د بدو خوا ته بسیج کوي.
د آدم علیه السلام او بی بی حوا د اغوا کولو لپاره شیطان موجود وو او ورته وویل چې که دا د ونې دانه د وخوړه نو تاسو به تل په جنت کې یاست. او قسم یې ورته وخوړ چې زه ستاسو خیر غوښتونکی یم. نو ټول ټولنه ویښوونکي خلک ښه طرفته نه بلی، بلکې داسې هم شته لکه شیطان چې سره له علمه یې آدم علیه السلام ته دوکه ورکړه او سره له علمه یې ملاییکو ته سجده ونکړه. خو دا په دې معنی نه ده چې یوازې شیطان دا کار کوي. شیطانان هم دوه ډوله دی. انسی او جنی ( الذی یوسوس فی الصدور الناس من الجنه والناس) ژباړه:

هغه چې د انسانانو په سینو کې شکونه او وسوسې اچوي، چې هم په انسانانو کې شته او په جناتو کې. دلته غواړم ټولنه ویښوونکي هم په دوو ډلو وویشم:
رحماني عالمان (ټولنه ویښوونکي) او شیطاني عالمان (ټولنه ویښوونکي) یرحماني عالمان هغه څوک دي چې هغوي عالم وي، فکر او ذهن یی د خپل صحیح علم مطابق وي او عمل او سلوک یی هم د علم مطابق وي او نیت او اراده یې د ټولني خیر وي.
شیطاني عالمان هغه دي: چې یوازې عالم وي، فکر، ذهن، سلوک او چلند یې د علم مخالف وي او یا دا ټول هم لري، نیت او اراده یې د ټولني گمراهي وي. د مثال په ډول: الله تعالي ټولو مخلوقاتو ته امر وکړ چې (اسجدوا لادم فسجدوا الا ابلیس، ابی و استکبر و کان من الکافرین). آدم ته سجده وکړئ، ټولو سجده وکړه، پرته له ابلیس (شیطان). منع یی وکړه او تکبر یی وکړ او له کافرانو څخه شو. په دې آیت کې د شیطان په اړه وایي چې (ابی) منع یی وکړه، دا له سلوک، چلند او عمل سره تړاو لري او (استکبر) او تکبر او لویې یې وکړه او دا له فکر او ذهن سره ارتباط لري. د شیطان په اړه دا ونه ویل شول چې دی جاهل وو، دی پوهیدو چې آدم ته سجده کول د الله تعالی امر دی، په دې اړه دي جاهل نه وو. بلکې دده فکر او عمل دهغه څه چې پرې پوهیدو، مطابق نه وو .
نو اوس هم یوازې په یوه کار، شی او موضوع مجرد د علم حاصلول او ظاهري قیافه د عالم په څېر جوړول انسان نشي عالم کولای ترڅو چې فکر او عمل یی د علم مطابق نه وي او دا ډول وګړي ته شیطاني عالم وایي (الله تعالي د موږ ورڅخه و ژغوري .(
د الله تعالی پیغمبرانو ځکه په ټولنه کې بنیادي تغییرات راوستل چې هغوي دهغه څه چې زده کړي یې وو، او الله تعالی ورته امر کړی وو او وربانډې عالمان ویل، ژوندي نموني وي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اړه حضرت عایشه رضی الله تعالی عنها فرمایې: چې محمد صلی الله داسی وو، لکه ژوندی قرآن چې پر ځمکه حرکت کوي .
همداسې ډاکټر سی، ایس وینکاټا راټنم، چې په نوي ډیلي کې د نړیوال منجمنټ د انسټیوټ رییس دی، په خپل کتاب (یوه مقاله د اسلام په اړه) کې لیکی: (د محمد اسلام له خپلو جدي اصولو او جدي اخلاقو سره دا ثابته کړه چې دا یوازیني عملی دین دی. محمد، د الله پیغمبر، نړۍ ته تر بل هر انسان ډیر خیر رسولی دی.(
زه فکر نه کوم چې زموږ په ټولنه کې څوک په دې نه وي خبر چې په نجونو او هلکانو تعلیم فرض دي اما بیایی هم محرومې، داسې څوک به نه وي چې په دې نه وي خبر چې یووالي د الله تعالی امر ده، اما بیا هم بی اتفاقه یو. داسی به کم خلک وي چې د جګړې، نا امنې او تربګنیو په زیانونو به نه پوهېږي او د سولې په ګټو به نا خبره وي اما بیا هم جګړه روانه ده. آیا موږ په دې نه پوهیږو چې پاکې د ایمان برخه ده؟ بیا هم زموږ ځان، کور او ښوونځې ناپاکه ده. لوراني به بدل کې ورکول، غیبت کول، دروغ ویل، توطیه کول، شیطاني او درغلی کول، زنا کول، لواطت کول، او نسوار کول، نظم او ډسپلین نه مراعاتول او یو بل بدنامول هغه منکرات دي چې الله تعالی ورڅخه منع کړي یو، اما بیایې هم کوو، دلته علت دا نه دې، چې موږ نه پوهیږو، دلته علت هماغه ده چې موږ یوازې د زده کړې (Learning)تر حده پاته یو او تطبیق یې موږ نه کوو. چې دا ډول عالم، معلم، ټولنه ویښوونکي، سیاستوال، تجار، اقتصادان، ژورنالسټ، لیکوال مو په شیطاني ډله کې راځي .
د ټولنیز خوځښت پیغام او وسایل څه دي؟
په ټولنیز خوځښت او هر بل خوځښت کې دا ډېره مهمه ده چې ټولنه ویښوونکی پوهه وي چې مشخص پیغام یې څه دی؟ مخاطب یې څوک دي؟ د مخاطب سویه څه ده؟ دمخاطب ارزښتونه، باورونه، تاریخ، او عادتونه څه دي؟ مخاطب له کومې لارې معلومات را غونډوي؟ د مخاطب فکري او جسمي توانایي څومره او څه ډول ده؟ د مخاطب ژبه او فرهنګ څه دی؟ د مخاطب څه خوښېږي او له څه څخه یې بد راځي؟ مخاطب څه وخت پیغام ته تیار ده؟ د پیغام رسولو وسایل کوم ډول په کار دی؟ آیا راډیو، ټلویزیون، انټرنیټ، سټلایټ کېبل ده که، اخبار، مجله، کتاب، بروشر (کتابګوټی) او که چارټونه، تبلیغاتي لوحې، ډرامې، رسامي، کنسرټونه، سندرې ، شعرونه، غزل او نور دی. او یا مطلق دودیز وسایل دی لکه: مسجد، مکتب، حجره، جرګه، شورا، ملا امام، ښوونکي، قومي مشر، غیردولتی موسسه او یا نور دی؟ ټولنه ویښوونکی باید له ځانه دا پوښتنه وکړي چې دي پیغام د څه لپاره ورکوي؟ دي له پیغام اخیستونکو څخه څه غواړي چې باید عملي یې کړي؟ دی باید دا هم معلومه کړي چې دده د پیغامونو په اړه دده د مخاطب ګروپ عکس العمل (مثبت یا منفی) څه ډول ده؟ او که پیغامونه، د پیغامونو ډول، وسایل او طریقو ته د اصلاح ضرورت وي باید اصلاح یې کړي. دې ته ورته ګڼې پوښتنې باید پیغام ورکوونکی چې دلته ټولنه ویښونکی دی له ځانه وکړه او بشپړ تیاری ورته ونیسی. زه غواړم د اسلام له نظره د پیغام او پیغام ورکوونکی څو ځانګړتیاوو ته اشاره وکړم:
اول :باید دهغه څه په اړه چې پیغام ورکوي پخپله یې عملي کړي، کنه نتیجه نه ورکوی: الله جل جلاله فرمایي: (لم تقولون ما لاتفعلون، کبر مقتا عندالله ان تقولوا ما لاتفعلون). ولی هغه څه وایی چې تاسو یې نه کوي، دا د الله په وړاندي لویه ګناه ده.
دوهم: په پیغام او معلوماتو کې مو پلټنه وکړي او یوازې په آوازو او انګازو، فرضیو او ګمانونو پیغام جوړ نکړي. باید معلومات مو دقیق او فلټر شوی وی او له معلوماتي خلا سره مخ نه یاست. الله جل جلاله فرمایی: (ان جاکم فاسق بنبا فتبینوا،

ان تصبوا قوما بجهاله فتصبحوا على ما فعلتم نادمين). کله چې يو څوک (فاسق) تاسو ته خبر راوړي، په کښې پلټنه او څېړنه وکړي (يعني په پټو سترګو يې مه مني). (که مو دا کار وکړ) نو تاسو به يو وقوم ته په ناپوهي (يعنی پرته له پلټني خبر او پيغام رسول ته جهالت وويل شو) زيان واړوي او بيا به تاسو په خپل کار پښېمانه ياست. دلته يو ډېر باريک ټکي ته اشاره شوی ده. هر هغه چاته چې په خبره او پيغام کې يې پلټنه او څېړنه نه وي شوي (فاسق) ويل شويدي.

دريم: بايد پيغام ورکوونکی، پيغام رسوونکی، پيغام اخيستونکی او د پيغام وسيله معلومه وي: لکه چې الله جل جلاله فرمايي: (وانه لتنزيل الرب العالمين، نزل به الروح الامين على قلبک لتکون من المنذرن بلسان عربی مبين). دا د عالميانو د رب له خوا نازل شويدی (پيغام ورکوونکی)، روح الامين (جبراييل) را وړی دی (پيغام رسوونکی(، ستا (محمد صلى الله عليه وسلم) په زړه (پيغام اخيستونکی) ترڅو له ويروونکو څخه شي (له پيغام اخيستونکي څخه د عمل غوښتنه)، په روښانه عربي ژبه ( د پيغام وسيله او پيغام اخيستونکو حالت .(

څلورم: د پيغام ورکوونکی هدف مشخص وي. لکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايی: (انما بعثت لاتمم مکارم الاخلاق). زه ددې لپاره لېږل شوی يم، چې غوره اخلاق بشپړ کړم .

پنځم :پيغام ورکوونکی بايد د ځان لپاره ځيني اصول او اخلاق و ټاکی، کنه بيا به دده اوريدونکی څوک نه وی. الله جل جلاله فرمايي: (يا ايهالذين آمنوا لا ترفعوا اصواتکم فوق صوت النبی ولاتجهروا له بالقول کجهر بعضکم لبعض ان تحبط اعمالکم و انتم لا تشعرون). اې مومنانو، خپل غږ د پيغمبر په غږ باندې مه لوړوي او داسې مه ښکاره کوي لکه په خپلو منځو کې يې چې ښکاره کوي، دا به ستاسو عملونه ضايع کړي پداسې حال کې چې تاسو به شعور نلرې. يعني داعي او ټولنه وينوونکی بايد د ځان لپاره ځانګړي اخلاق و ټاکی، ترڅو پيغام اخيستونکی دده پيغام واوري، غوږ ورته ونيسی او عملی يې کړي. دلته الله جل جلاله مومنان د پيغمبر په حضور کې په لوړ آوز له غږېدو څخه منع کړل.

شپږم :د پيغام عملي کول لومړي له ځانه پيل شی لکه په مزمل سورت کې لومړي مخاطب محمد صلى الله عليه وسلم ده. (قم، يعنی پورته شه، له بړستني څخه ووځه) او) فانذر، خلک وويروه يعنی عمل وکړه). دوهم: له خپلې کورنۍ (نږدې چاپېريال (څخه پيل وکړه لکه الله جل جلاله فرمايي: وانذر عشيرتک الاقربين (خپل نږدې خپلوان وويره او بيا ليري چاپېريال ( ... والناس اجمعين، او ټول انسانان .(زموږ تل خبره سرچپه وي، ځان او نږدې چاپېريال مو هېر کړي وي او په ليري چاپېريال کې اخته يو. همدا وجه ده چې زموږ پيغام څوک نه اوري او نه ورباندې عمل کوي.

اووم: د پيغام وخت او موده ټاکلی وي. لکه د لمونځ په اړه الله جل جلاله فرمايي: (ان الصلاه کانت على المومنين کتابا موقوتا). يقينا لمونځ پر مومنانو پرټاکلی وخت فرض شويدي. همداسې ټول عبادات حج، روزه، زکات، فديه او نور ټاکلی معيار او وخت لري .

څو وړانديزونه:

۱ .ددې لپاره چې اسلام مو نور هم ښه پيژندلی او عملی کړی وی، لازمه ده چې د غرب او د غرب د فرهنګ او ددوي د ټولنيزو فلسفو په اړه ژور معلومات راغونډ کړو، ترڅو هغه (معلوماتی خلا) چې مسلمانان په ځانګړې ډول افغانان يې لري بايد ډکه کړي او د ټکرونو پر ځای د علمی او عملی خوځنده سياست پر لور خپل لورې ته خوځښت ورکړو.

۲ .د ټولنيز خوځښت لپاره فعال، خوځنده او د عصر د غوښتنو مطابق او موافق د اهليت او قابليت وړ ليډرشپ (قيادت، مشرتوب) ته اړتيا ليدل کيږي. د کور، ښوونځي، جومات او حجرې په کچه د ليډرشپ ملاتړ او غښتلتيا ټولنيز خوځښت رامنځته کولای شی. د ليډرشپ يو رول او نقش دادی چې ټولنه د يوه مشترک لرليد په لور په سم ډول رهبري کړي. د ټولنيزو موسسو له ايجاد څخه ترمخه دداسې قيادتونوته اړتيا ده چې را وړاندې شي او ټولنه له بدبختيو څخه راوباسی. که د ټولنيزو موسسو او نورو ګڼو موسسو په سر کې ښه ليډرشپ قرار ونلري. هغه الوتکي ته ورته ده چې ډېره عصري، نوي او په ټولو پرمختللو وسايلو سمبال او د مسافرو ګنجايش يې هم تر بلې هرې الوتکي زيات وی، اما د يوه کمزوري، بی مسلکه او نا لايقه پيلوټ په واک کې يې ورکړي، نو د ټولو مسافرو برخليک به له خطر سره مخامخ او دټاکلی هدف پر ځای به يې د مرګ کومې او کندې ته وغورځوي.

۳ .د ټولنيز خوځښت دتطبيق په ترڅ کې نورې زده کړې کول او خپل اشتباهات او تېروتني مستندې کول او د ټولنيز خوځښت په تګلاره، ستراتيژي، هدفونو، پيغامونو، او نورو لارو چارو له سره کتنه او په ورين تندې خپلې تېروتنې منل.

۴ .د ټولنيز خوځښت لپاره محلي، ملی، سيمه ايیز او نړيوال فاکتورونه پيژندل او هڅه کول چې له ټولو سره منطقی او عقلانی چلند وشي، نه احساساتی، عاطفی او لنډ فکره.

۵ .ټولنيز خوځښت د ټولنيزې اجماع په نتيجه کې راځي په دې معني چې (فرد،کورني ، قبيله) او ټولنه له يوځاي کېدو څخه

اجتماع جوړیږي. موږ هغه وخت ټولنیز خوځښت رامنځته کولای شو چې ټولنه په اجتماع بدله کړو. اجتماع د یوه ټولنیز هدف لپاره منځته راځي.
۶ .ډیري ځل په اوسني حالاتو کې زموږ ټولنه من حیث المجموع د هر ډول منکراتو) بدو کارونو) او ورانکاریو پر وړاندې جامده، بي تفاوته او سیل بینه ده. ددې اصلي لامل زموږ د ټولنې تشتت، بي اتفاقي او عدم اجتماعیت دی. موږ هغه وخت د هر جاهل، ظالم، جابر او ناروا مخه نیولای شوو چې موږ د ځان ځانیو څخه د ټولنیز خوځښت پر لور ټولنه متحده کړو ..
یادداشت: په افغانستان کې یو د نا امنی لامل د علم بشپړه نه پیژندنه او تعریف او د هغې ویشل په دینی او عصري علومو دی. قرآنکریم د محمد صلی الله علیه وسلم معجزه او د بشریت لپاره تلپاتی آسمانی اساسی قانون دي چې د هر عصر غوښتنو ته ځواب وایي. لهذا د عصري او غیر عصري تفکیک په خپله د ملا او مکتبي یا په بل عبارت د مدرسي او پوهنتون ترمنځ د اختلاف را منځته کول دي .زموږ په تاریخ کې تل ځینو حلقو دا هڅه کړېده چې د کلیوال او ښاري او ملا او مکتبي په نومونو زموږ ولس وویشي او ولس ته داسي وښي چې جنتیان یوازې طالبان او ملایان دي او مکتبیان ټول دوزخیان یا له الله تعالي څخه لیري نور څوک دي او مکتبیان تل داسي ښودل شوي چې ګواکي دوي روشن فکر! او خدانخواسته ملایان تاریک فکر! دی. دا هغه فکري مرض دی چې د شیطاني علم پیروان یې زموږ ټولنی ته پیچکاري کوي. په داسي حال کې چې مدرسه او مکتب دواړه د لیک او لوست ځای ته وایي او دواړه عربي کلمې دي. په خلیج او عربي ملکونو کې ښوونځیو ته مدرسي وایي. زموږ په ټولنه کې د مدرسي له نوم سره جوخت یوازې داسي انګیرل کیږي چې یوازې دیني زده کړه او د مکتب له نوم جوخت دا ترلی ده، چې یوازې دنیاوي علوم .
اسلام علم فرض کړیدي او هر نافع علم چې د ټولنې او انسانانو په درد وخوري او دنیا او اخرت دواړه ورباندې جوړ شي.

## اووم څپرکی

## تعصب او عصبیت داسلام له نظره:

پیژندنه : عصبیت دې ته وایي چې انسانان د پلار له خوا د خپلي انساني منشي سره کلکې اړیکي وساتي او دغه تر هر څه مهمې وګڼي، دا یو ډول تشدد، زور زیاتی، عصبي توب او په کوچنیو او لوړنیو منشو پوري بې ځایه نښتل دي . تعصب بیا پر عصبیت ټینګ پاتې کیدل دي چې د ځان او خپلي منشي هر څه ښه ویني او د نورو هر څه ورته بد ښکاري . متعصب ته د بل لوري ښیګڼه، علم او تقوا دده تر بدئ او ګمراهئ او کمزورئ لا بد ښکاري؛ او دا ځکه چې متعصب د بلې منشي والا اصلا د ښو صفتونو او ښېګڼو مستحق نه ګڼي .
په نړیوالو ادبیاتو کې د تعصب تعریف داسي شوی دی:
تعصب له دلیل پرته او له کره معلوماتو غیر د یو چا په باب د هغه د جنس، ټولنیز ګروپ، عمر، معیوبیت، سیاسي ګروهې، قام، ژبې، مذهب، سیمې او رنګ پر بنسټ مخکې له مخکې ناسم قضاوت او پریکړه ده. په دې صورت کې رښتیا او حقیقتونو ته نه کتل کیږي او د پورته فکټورونو له مخې د یو شخص او یا یوې ډلې په باب یو بې دلیله منفي یا مثبت قضاوت، برخورد او یا کړنه کوي، او یا ذهنیت اخلي او نظر څرګندوي.
تعصب په څو ډولونو دی : شناختي تعصب، احساسي تعصب او سلوکي تعصب. هر یو یې یو څه تشریح غواړي، چې دلته ترې تیریږو.
تبعیض یو داسي سلوک او یا عمل دی چې له اشخاصو او ډلو سره د هغوی د ټولینز ګروپ له امله نا مساوي سلوک او برخورد کیږي . دا هم په څو ډولونو دی : شخصي/ فردي، قانوني او اداره يي/ موسسه يي د اسلام د سپیڅلي دین له نظره چې تدین او تمدن څومره غوره او ارجح دي؛ تعصب او عصبیت همغومره مردود دی . د اسلام ستر پیغمبر (ص) فرمایي ((من مات علی العصبیةٍ فلیس منا ،ومن قاتل علی العصبیة فلیس منا، ومن دعا الی العصبیة فلیس منا ))یعنی عصبیت ته بلونکي، تعصب کوونکي او له تعصب سره مړه شوي ټول له اسلام نه بهر ګڼلي او تعصب یې د جاهلیت د زمانې یوه داسي ټولنیزه ناروغي ګڼلې چې ورسته او بویناکه ده . اسلام ټول انسانان له آدم نه او آدم له خاورو ګڼي او تور ته په سپین، عرب ته په عجم او د دوی پر عکس کوم امتیاز نه مني . امتیاز یوازې هغه چاته دی چې ډیر پرهیز ګار وي ((ان اکرمکم عندالله اتقاکم )).
مولانا جلال الدین محمد بلخي په دې باب یو ښه شعر لري چې خورا عالي انساني پیغام لیږدوي؛ مفهوم یې دادی:
(په یوه تورتم خونه کې یو فیل و؛ چې د پیژندلو لپاره یې بیلابیلو اشخاصو د بدن په بیلابیلو برخو لاسونه وهل او له خپل نظره یې فیل تعریفاوه : یوه ویل چې فیل د ناوې په شان دی؛ ځکه ده د فیل خرطم لمس کړی و. هغه بل چې یې پر شا لاس

اینسی و؛ ویل یې چې فیل یو روان تخت دی . هغه بل چې د فیل غوږونه یې لمس کړي وو؛ ویل چې فیل باد پکی دی؛ بل یې پښې لمس کړې وې او فیل ته یې ستن ویله .البته د فیل له بدن نه دا ناقص تعبیرونه ناپوهي (جهل) و؛ او که د علم رڼا (شمع) له دوی سره وای؛ د نظر دا ټول اختلافات په سمه توګه حلیدل.

له دې کیسې ښکاري چې د تعصب او په خپل نظر پورې د ټینګ نښتلو منشه په ناپوهی او جهل کې پرته ده. مولانا بیا وایي :

مولوي په دې کیسه کې خام او متعصب کس د اومو میوو سره یو شان ګڼلی چې لا پخې شوې نه دي او د ونو په ښاخونو پورې کلکې نښتې دي او له دغو ځانګو نه بیلتون ورته خپله نابودي ښکاري؛ خو ددې پر خلاف پخې مېوې په ښاخونو او ونه پورې تړلو ته اړتیا نه وینې.

هوښیار او با سنجشه انسان په ښکاره ځلا او پرقا پسې نه ګرځي او د ټولو انسانانو لپاره د خوږې مېوې په شکل ګټور کیږي . د مولانا د شعر په اخیر بیت کې متعصب کس د جنین سره تشبیه شوی دی؛ چې د مور په ګېډه کې وي او د مور له وینو تغذیه کیږي . فکري وده او ټولنیز انکشاف باید موازي پر مخ لاړ شي او عالي انسانان د لویو ټولنیزو او انساني سمونونو په غم کې وي، یوازې د ځان د لویولو لپاره د نورو وینې نه څښي . مثبت بدلون مني او دکنګل حالت نه ځان راوباسي چې فکر او عقل یې وغوړیږي.

په عمل کې متاسفانه انسانان او قومونه لا هم تعصب کوي. یو امریکایي ځان تر هر چا پیاوړی او د نړۍ د مشرۍ مستحق ګڼي، اسراییل ځانونه د الله غوره مخلوق او خپله خاوره موعود جنت ګڼي، افغانان او ایرانیان هر یو هم د اریایي توب د اصالت او د نور د کم اصلۍ دعوې کوي. اسکیو ګان او تورپوستکي هم دې نورو ته کمزوري، ډارن او لټان وایي او په خپل نسل او نسب ویاړ کوي . په عام ډول ځیني انسانان د قام، ژبې سیمې او مذهب د برترۍ او د نورو د کمۍ او کمترۍ دعوې کوي؛ خو تعصب زیاتره د سیاست یوه وسله او وسیله ده او سیاستمداران پرې ځانونه قدرت ته رسوي . سیاستمداران په خلکو او خصوصا خپلو پیروانو کې د دوی د یوې منشې په زیاتي ځلوني د دوی ملاتړ د ځان لپاره جذبوي او دغه خلک د دغې منشې پر بنسټ پر راچورلیدلي انګیزه داسې ګرموي؛ چې بیا ورته نه خپل ژوند مهم وي او نه د بل، خو دا ورته مهمه وي؛ چې د ده خوښه غوره وګڼل شي، او د بل هغه ناغوره.

تعصب او ناروا جګړه یو ډول انحراف دی چې د انسان دفاعي قوتونه په ظالمانه ډول برغلګر کیږي. کله چې لومړنیو انسانانو له خطرونو څخه د ساتنې او ورسره د مقابلې او نورو عواملو له مخې کورنۍ، بیا ورپسې قومونه او قبیلې تشکیل کړې، او بیا یې د فردي، ټولنیز او قومي او په پای کې د ملي ملکیت مسایلو ته پام شو؛ نو د نورو سره یې بیا د خپل شناخت او پیژندنې او سیمې او ملکیت د بیلولو فکر او اراده هم پیدا شوه. انسان غواړي دغه تشخصات او ملکیتونه یې له برید نه په امان کې وي او څکه د دفاع او ساتنې پر لارو چارو هم فکر کوي. د انسان دغه دفاعي قوتونه کله کله انحراف کوي او په خپل حد د قناعت پر ځای د نورو په حقونو د تیرې تکل کوي؛ چې په دې صورت کې بل لورى() فرد، کورنۍ، قام او یا ملت)دفاع ته مجبوریږي. برتري غوښتنه د تعصب او جګړو سبب کیږي؛ او مدافع لوری هم که کلکه دفاع ونکړي له منځه ځي. په دې صورت کې هر لوری خپل هر څه ښه ګڼي او د بل لوري هر څه ناسم.

فکر کیږي چې د انساني ټولنو له پیله همدغو عواملو دې ته زمینه جوړوله چې انسانان په ځینو منشو پورې کلک ونښلي او خپل ژوند، حقونه او ابرو وساتي او دغه عمل ورو-ورو تعصب او برغلیزو جګړو ته زمینه جوړه کړې ده. د وخت په تیریدو او د انسانانو او ټولنو د تکامل په زیاتیدو دغه شکل بدل شوی او له فردي ساتنې نه ورو ـ ورو کورنۍ، کلي، قبیلې، قام او ملت ته رسیدلی دی. که څه هم د اسلام له نظره د ملت او دولت په کچه هم تعصب او جګړه ناروا ده چې ایډیال او عالي حالت دی؛ خو نړۍ لا عملا د تکامل دې پړاو ته نه ده رسیدلې چې ولسونه او ملتونه دې ملي او هیوادنۍ ګټې له چا سره شریکې او یا دې د نورو په ملي ګټو او پولو بلوسیدنه پای ومومي. اوس عملا په نړۍ کې ملي هویت، ملي غرور او ملت-دولت او ملي پولې په کلکه ساتل کیږي. دولتونه خپلو خلکو ته داسې انګیزې ورکوي، چې له ګاونډیانو او نورو هیوادونو نه پرې د دوی تمایز وشي او دوی پرې ننګې، دفاع او کلکو نښتلو ته وادار شي. که یو پوځ د جګړې لپاره انګیزه ونه لري، که څه هم ډیر پیاوړی او په ښو وسلو سمبال وي، د بل داسې پوځ مقابله نه شي کولای چې ښه انګیزه ولري. دغسې پوځ هله جوړیږي چې پوځیان په کلکو انګیزو وروزل شي.

ښه خو به دا وي؛ چې ټول انسانان په لوړو عالي انګیزو او شریک انساني هویت پورې کلک شي او د تعصب ټولې زمینې له منځه یوسي، خو دا لا ډیره پرمختللې هیله ښکاري چې کم تر کمه اوسمهال خیالي ده. اسلام په نړیواله کچه د خدای د خلافت ماموریت لري؛ چې عالي ارزښتونه یې دغسې وړتیا هم لري؛ خو په عمل کې له یوې خوا د مسلمانانو اوسنی اعمال،

زور، اراده او امکانات د دغسي ستر انساني ارمان د لاس ته راوړو لپاره کمزوري دي؛ او له بل لوري غربيان دومره پياوړي شوي دي، چې د نړۍ مشري يې زياتره په استعماري شکل په لاس کې ساتلې ده؛ او د نړيوالتوب په دې پېر کې هم د تمدنونو د ټکر د دروغجني ويرې تر بهانې لاندې غواړي خپل تفوق تر ډېره پر نړۍ وساتي او څکه خپلو پوځونو او ولسونو ته د عصبيت او لوړتياغوښتنې درسونه ورکوي .

ابن خلدون د اسلامي نړۍ يو ستر ټولنپوه او سياستپوه ، د عصبيت په باب يوه خاصه فلسفه لري او فکر کوي چې ټول ټولنيز حرکتونه د عصبيت پر بنسټ رامنځته کيږي او بري ته رسيږي . خو هغه (تقريبا) د يو هيواد په منځ کې قومي او ژبني او نور تعصبونه نه يادوي؛ بلکې په ټولنيز انسجام، ملي هويت، ملي غرور او ملي تشخص وياړ ته عصبيت وايي . زه فکر کوم چې د ابن خلدون نظريات د تعصب د اوسني عام مفهوم په پلوی نه بلکې ترې راوتل او په لويو انګيزو پورې نښتل دي . د ابن خلدون عصبيت د دغه ډول عصبيت سره کاملا په تضاد کې دی چې موږ ترې يادونې وکړې. د ابن خلدون په ليکنو کې د عصبيت تعبير بيلابيلو پوهانو په بل ډول کړی دی:

د اوس زماني زياتره ټولنپوهانو هغه د ټولنيز انسجام په معنا کارولی دی:

د روزنتال له نظره د ابن خلدون په تيوری کې عصبيت د دولت د تاسيس محرکه قوه ده . د وطنپالنې او ملي شعور مسايلو سره يې يو شان ګڼل سم نه ښکاري، څکه هغه وخت لا ملت او دغه مسايل نه وو. د عصبيت لپاره د ټولنپوهنې عام مفاهيم لکه (عام روح)، (ټولنيز پيوستون)، (ډله ايز پيوستون)، (ګډه اراده (او (په پراخه معنا پيوستون) هم استعمال شوي دي. د توين بی( Toyn Bee)په نظرعصبيت يوه روحانی اوبدنه ده چې ټول سياسي او ټولنيز غړي ترې جوړ شوي دي؛ دا تعريف له مبالغې ډک دی . د ځيرونکو بلې ډلې په کلی ډول عصبيت له تعاون او مرستې سره مترادف ګڼلی دی. ځينو غوښتې لږ دقيقترتعريف ورته بيامومي او ورته داسې اصطلاحات لکه د جنګياليتوب پر بنسټ تعاون، او د جنګياليتوب روحيه وړانديز کړې ده.

له پورتنيو شرحو څرګنديږي چې د ابن خلدون د عصبيت تعريف ډير پېچلی او مبهم دی؛ او دا ټول تعريفونه يوازې د هغه يوه برخه رانغاړي؛ چې ځينو ورته ډله ايز روح، د ټولنې روح، د وينې د سيالی روح، ملي او نژادي غرور ويلی دی ؟ ابن خلدون عصبيت په پراخه معناکارولی دی او هغه يې د ټولينزو بدلونونو تر ټولو مهم عامل ګڼلی دی . په بيلابيلو کارونو کې د دولت د غړو اشتراک او د ګټو او فکرونو يووالی د عصبيت منځ ته راوړونکی عامل دی خو د ده په نظر دا پيوندونه نسبي دي؛ اويوازې د خپلوی پيوند طبيعي دی. کله چې د قوم يو غړی تر ستم يا ظلم لاندې راځي نو دده د نورو وابسته ګانوملي غرور راپاريږي او له ده دفاع کوي؛ او که نه وي ځان خوار او زبون ګڼي. د ټولنيز پيوند له مخې ټولنيز ګروپونه جوړيږي، دولت او نظام جوړوي او يو د بل د دفاع لپاره ټينګ ودريږي، کله چې قبيلوي جامعه په ښاري ټولنه بدل شوه؛ دولت يې جوړ او د نورو نه په امن کې شول، نو ورو ورو نرم او پاسته کيږي؛ لټي او سينګار پکې زياتيږي او هغه ده چې بله ډله چې ټولنيز انسجام، عصبيت او غرور پکې ډير وي پر دوی مسلطيږي او دوی چې زيار ايستنه، له سختيو او ستونزو سره مقابله او په اصطلاح غيرت پکې کم شوی وي، ماتيږي، دولت يې له منځه ځي او يووالی يې درې وړې کيږي.

دا هماغه د تاريخي دوراني تکامل او تطور نظريه ده.

د ابن خلدون په نظر د عصبيت منشه له لاندې عواملو جوړه ده :

فطرت ۲- نسب و حسب ۳- دين ٤- جغرافيايی محيط او د معيشت ډول؛

په لنډ ډول د ابن خلدون په نظر د تاريخي دوراني تکامل او تطور له مخې په يو ځای ډير اوسيدونکي د بدويانو په وړاندې چې قوي عصبيت لري ماته خوري، څکه د ښاري شوو قبايلو مشران د ښاري سينګار او ډول په سستيو او مستيو کې ډوبيږي او په تدريج يې ميړانه،زړورتوب او غرور کميږي او نيک صفتونه يې په ويره، تمه، او محافظه کاری بدليږي . په نتيجه کې د دوی عصبيت کمزوری کيږي؛ او زمينه دې ته جوړيږي چې بله قبيله چې عصبيت يې تر دوی سخت تر، شديدتر او قويتر دی پر دوی بريالی او د دوی پخوانی دولت له منځه يوسي او نوی دولت جوړ کړي .د دوران دا تسلسل هماغه شان ادامه کوي او په دې ترتيب عصبيت،د قبيلې محرکه قدرت او په لومړنيو خلکو کې د دولت د استقرار اساسي شرط ګڼل کيږي .

ايډيال حالت خو به دا وي چې انسانان ټول ځانونه د يو وجود غړي وګڼي او که د مبارزې لپاره کومه انګيزه توليدوي، نو هغه هم د طبيعي افاتو او وحشي قواوو په وړاندې انسانانو ته د ټينګ عزم او کلکې مبارزې انګيزه ورکړي، خو په په عمل کې انسانان (زياتره سياسي خلک) متاسفانه اوس هم ډول ډول تعصبونه کوي چې خپلو ملګرو او ډلې ته پرې انګيزه ورکړي. ملتونه خپلو ولسونو ته د خپلو ارزښتونو د ساتلو او د نورو د لاندې کولو لپاره او ورته د خپلو ارزښتونو د وروړلو

لېاره انګيزې توليدوي، دا د ټولنو په ټولنيزو او اقتصادي شرايطو پورې اړه لري چې له څه شي انګيزه جوړه کړي. د يو هيواد لويه بدبختي به دا وي چې د خپل هيواد په دننه کې د خپلو هيوادوالو پر ضد تعصب کوي او له قام، ژبې، جنس، سيمې، مذهب او نورو فکتورونو نه د خپلو هيوادوالو پر ضد د مخالفت د انګيزې کار اخلي. که څه هم تعصب له نورو ملتونو سره هم ښه نه دي، خو دا چې زياتره هيوادونه د خپلو ګټو د ساتلو او د نورو د کمزوري کولو لپاره انګيزې توليدوي، نو افغانان هم بايد د خپلو ملي ګټو او معنوي ارزښتونو د ساتلو لپاره ولس ته انګيزه ورکړي . نوي نسلونه بايد د انسانيت په ډېرو عالي ارزښتونو وروزل شي چې د ټول بشريت د خير او فلاح لوړ ايډيالونه ورزده کړل شي، خو دا هم ورته زده شي چې سياسيون لا دومره معنوي پرمختيا ته نه دي رسيدلي چې ټول انسانان يو شان وګڼي، نو بايد د تيري ګرو په وړاندې د مشروع دفاع انګيزې هم ورزده شي .

زموږ دنده: دا غوره نه ده چې د تعصب په صورت کې موږ هم تعصب وکړو، او د شخص د تعصب پر ځای د هغه په ټولنيزه منشه (قام، ژبه، رنګ، مسلک، دين او يا نورو) پورې بد- رد؛ او تهمتونه ووايو. موږ ته دا هم نه ښايي چې غلي کينو او ووايو چې د تعصب او متعصب سره اصولي مقابله به هم ګويا تعصب وي؛ د تعصب د مفهوم او مشخص متعصب شخص يا ډلې سره مخالفت زموږ يوه فريضه ده؛ ځکه تعصب يو منکر او ناروا عمل دی او د ناروا سره د مخامخ کيدو په صورت کې په هر مسلمان فرض ده چې په لاندې لارو کې يوه تر سره کړي: بدي او منکر او ناروا بايد:

په لاس منع کړل شي؛

-په خوله ورته بد وويل شي؛

-په زړه کې ورسره کينه وشي.

د حکومتونو دنده ده چې د تعصب او متعصبينو سره په لاس او قوت مقابله وکړي او داسې سزا ګانې ورکړي چې د شر د خپريدو مخه يې ونيول شي؛ ليکوالان، علمي اداري او رسنۍ دې تعصب وغندي او عام هيوادوال دې ورسره کينه وکړي. آيا د دې هرڅه وروسته به نور څوک تعصب نه کوي؟ تعصب يوازې په نصيحتونو نه ورکيږي .دا د ټولنو واقعيت دی چې ښه او بد تل يکې موجود وي . تعصب به په راتلونکي په يو ډول او يوه کچه موجود وي او متعصبان به د شريفو او ساده خلکو پاکې انګيزې راپاروي او سو استفاده به ترې کوي . خو څومره چې د ټولنو او وګړو پوهه، علم او معلومات پراخيږي؛ قوانين اصلاح کيږي او پلی کيږي؛ په ټولنه او دولت کې د زياتو خلکو د ګډون زمينې ډيريږي؛ د کلي او ښار توپير له منځه ځي؛ پر واحد هويت پياوړی کيږي؛ د هيوادوالتوب يا تابعيت پر بنسټ حقوقي مساوات يقيني کيږي او ټولنيز عدالت او متوازن انکشاف رامنځته کيږي؛ د تعصب متعفنه ناروغي او د هغې ځېلې به کمزورې کيږي او وچيږي . د تعصب د له منځه وړلو دوه بنسټيز توکي پوهنه عاميدل او قوانين سميدل او پلي کيدل دي.

ولې د تعصب پر وړاندې موږ بريالي کيږو؟ ځکه انسان او ټولنې د تکامل پر لور رواني دي؛ الله (ج) انسان داسې پيدا کړی دی، چې د تکامل پر لور هڅه کوي او ورروان دی؛ له ښه نه ښه تر غواړي او شاته تګ ورته کمزوري او کمزوري ښکاري ؛ د عالي انسانانو د يون دا پرمختګ به ورو وي؛ خو د

دا يوپېتمن او شريفانه حرکت دی او ثابت او هميشنی به د قيامت تر ورځې روان وي .

## اتم څپرکی

## اداری فساد د اسلام له نظره

رسول الله صلی عليه وسلم فرمايی:((الراشی والمرتشی کلاهمافی النار)

ژباړه: الله تعالی په رشوت ورکونکی او رشوت اخيستونکی او ددواړو تر منځ لعنت کړی دی ))حديث شريف رواه احمد له پورته مبارک حديث شريف څخه په څرګنده سره معلوميږی چې داسلام مبين دين څومره په معاملاتو او کارونو کی فساد او غير قانونی او غير شرعی کارونو ته په مذمت سره ګوری

### دځمکي په سرفساد له کومه راځي ؟

څښتن تعالي د قران عظيم الشان په ۲۱ سپاره الروم سورت کی فرمايي چې : داد انسان لاسونه دي چې دځمکي په سر اودبحرونواودريابونوپه منځ کې يې فسادونه منځ ته راوړي دي ، نورحيوانات دځمکي اويا بحرونوپه فسادکي ګډون نه لري ، ټول دکا يناتوپه منځ کي دچليدونکي قانون سره سم روان دي ،سرکشي اوطغيان ، تکبراوظلم ، ناروا اوتجاوز يواځي دانسان

کار دې چې له کبله یې په کا ینا توکې فسادونه روان دې او نورو مخلوقاتوته هم زیانونه اړوي ، بل کوم حیوان دې چې توري اوتوپکونه یې جوړ کړیدي ، اوبل کوم حیوان دې چې داټومي بمونوپه سر ناست دې اوکه یوه بټنه یې وخوځول شي نوددنیا ډېرې برخې به ړنګې کړي ، ایا بل کوم داسې حیوان په دې کا ینا توکې شته چې دبحرونوپه تل کې انفجارات ترسره کړي اود بحري حیواناتوژوند دګواښ اوستونزو سره مخ کړي

انسان یواځې هغه مخلوق دې چې په خپل علمي اوعقلي توان سره یې که دیوه اړخه په کایناتوکې خورا حیرانونکې ابادي ترسره کړېده نوله بله اړخه یې په دې کایناتوکې یوازې دانسان ژوندنه بلکه دټولوحیواناتو ، نباتاتو اوالوتونکو مرغانوژوند هم له سترخطرسره مخ کړېدې .

وایي چې کله هم انسانان سپوږ مۍ ته پورته شول نویوشمیر ساینس پوهانوژړل اودا یې ویل چې انسان به دځمکې دسرفسادونه اونارواو رقابتونه سپوږمۍ اونوروستوروته هم وغزوي اوپه داسې فساد به یې ککړ کړي لکه څرنګ چې یې دځمکې سر له فسادنه ډك کړېدی.

**اداری فساد او د هغی ډولونه:**

داداری فساد پر وړاندی دمبارزی دستراتیژی پرپلی کیدو دڅارنی قانون ددریمی مادی پر اساس دلاندی اعمالو ترسره کول دافغانستان په قانون کی اداری فساد ګڼل کیږی:

١. رشوت .
٢. اختلاس .
٣. داسنادو غلا.
٤. درسمی پاڼو او اسنادو غیر مجاز اتلاف ( له منځه وړل).
٥. دقانونی واک له حدودو څخه تیری .
٦. له وظیفوی موقف څخه ناوړه ګټه اخیستنه.
٧. دعدالت په تطبیق کی خنډ اچول یا یی مخنیوی.
٨. په شخصی چارو کی له دولتی امکاناتو او رسمی وختونو څخه ګټه اخیستنه.
٩. له قانونی عذر پرته دیو دندی له اجرا څخه ډه ډه کول او استنکاف ( منع کول).
١٠. دحقیقت پټول .
١١. دشتمنی په غیر قانونی ډول زیا تیدل.
١٢. دسندونو تزویر (جعل او تقلب).
١٣. دخپل صلاحیت او دندی په اړه دروغ ویل .
١٤. په اړوندو چارو کی دکار داجرا یا له هغه څخه د ډډی کولو په منظور دهر ډول تحفی اخیستل .
١٥. دسپارل شوی دندی په اجراکی تعلل کول.
١٦. داړوندی اداری د سلوکی قواعدو نه مراعات کول .
١٧. په سپارل شویو چارو کی دسیمیزو ، مذهبی ، جنسیتی ، او شخصی کتنو ( ملاحظاتو) په اساس عمل کول .
١٨. د اداری فساد په وړاندی دمبارزی په ستراتیژی کی ددرج شو نورو اعمالو تر سره کول اویا ورڅخه ډډه کول.

**سرچینی اوماخذونه:**


۱-القرآن الکریم.
۲-دحدیثونوکتابونه.
۳-اسلام اوعصری ستونزی .
۴-التربیة الاسلامیة.
**۵ـ داداری فساد پر وړاندی مبارزی دستراتیژی پرپلی کیدو دڅارنی قانون.**